۱۳۵۰ شرطان
7171
۱۳۵۰/۴

کندهار

شیرخان بندرچی دګران هیواد په شمال کی یو تجارتی بندر دی هر کال په زرو ټنه تجارتی
مالونه د دغه بندر دلاری خارجی هیوادو ته ځی او راځی او زموږ د تجارت
او اقتصاد په انکشاف کی مهم رول لوبوی

د کندهار مجله

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
د مسؤل مدیر وکیل: غلام محی الدین (ایوبی)

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی، تاریخی، اجتماعی، علمی

اداره: د شهیدانو واټ

د تاسیس کال ۱۳۳۹
د دولسم کال څلورمه ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۳۰

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانی

د هیواد په داخل کی [۳۲]

په د باندنیو هیوادو کی یو ډالر

د چنګاښ میاشت
۱۳۵۰ لمریز کال

د دې ګڼې مضامین

د هیواد په بیلو بیلو ښارونو کښی د صنعتی پانګی . .	۱ مخ
شعر څه شی او څه صفات لري؟	۲ مخ
په ټولنه کښی محبوبیت	٤ مخ
ملی احساسات	٦ مخ
په فرانسه کښی تعلیم او تربیه	۷ مخ
روحی اضطراب او دهغه علاج	۹ مخ
د ژبی اختلاف د یوه لغت په ترجمه کښی اشتباه . .	۱۲ مخ
د ادب ګلونه	۱٤ مخ
لومړنی مینه	۱۵ مخ
د شاعر غرور	۱۵ مخ
افلاطون څوک ؤ؟	۱٦ مخ
د تیاترلنډه تاریخچه	۱۷ مخ
کلاسیک ادبیات	۱۸ مخ
میر بابا (رح)	۱۹ مخ
چوپتیا	۲۰ مخ
د فضا او خوراکی شیانو عصر	۲۱ مخ
د تلویزیون پاڼه څه ډول . . .	۲۲ مخ
د بدن سره د خولی رابطه	۲۵ مخ
د هند د حیدرآباد ښار	۲۷ مخ
یادونه	۲۹ مخ

دهیواد په بیلو بیلو ښارونو کښې
د صنعتي پانګې په کار اچول

ددې لپاره چې زموږ خلک یو ځای دهیواد په مرکز یعنې کابل او یا نورو لویو ښارونو کښې تمرکزونه کړي او په تیره بیا کابل د نفوسو د زیاتوالي او ددغې ناحیې څخه د زیاتو اقتصادي او اجتماعي مشکلاتو سره مخامخ نسي او هم دهیواد نورې سیمې د خلکو

د اقتصادي او صناعتي فعالیتونو څخه خالي نوي باید دهیواد په بیلو بیلو ښارونو کښې صنعتي پانګې تشویق او په کار ولویږي دولت څو کاله د مخه دهیواد د ټولو سیمو د عرفاني عمراني، صحي، اقتصادي او اجتماعي انکشاف

په منظور او ددې لپاره چې په اداري چارو کښې خلکو ته آسانتیاوې پیښې شي هیواد یې په ۲۸ ولایتونو وویشي او په دې ډول د هر ولایت انکشاف ته زمینه مساعده شوه او اوس هر سیمه د ژوند په ټولو چارو کې په متوازنه توګه پرمختګ کولای شي.

که څه هم اوس زموږ لوی ښارونه لکه کابل، کندهار، هرات او داسې نور نسبت پخوا ته د نفوسو د زیاتوالي له حیثه د مشکلاتو سره مخامخ دي او د نورو سیمو خلک ورو، ورو دغو لویو ښارونو ته د کارونو د پیدا کولو او

ژوند د سمون له کبله ځي، نو طبعا پانګه په لویو ښارونو کښې تمرکز مومي، خو دولت غواړي په دوهمه مرحله کې دهیواد وړوکي ښارونه د صناعتي فعالیتونو مرکز وګرزوي او سرمایه ګذاري پکښې وشي.

په ۲۸ ولایتونو دهیواد ویشل که په اداري لحاظ دهیواد والو زیات مشکلات د منځه یو وړل او د هري سیمې خلکو ته زمینه مساعده کړه چې وړوکو ښارونو ته ژر تر ژره ورتلای او مشکلات حلولای شي نو دغه کار په دغو

ولایتو کې د خلکو اقتصادي صناعتي، زراعتي او داسې نورو فعالیتونو ته هم لار خلاصه کړیده.

مثلا پخوا زابل، روزګان او هلمند په کندهار پورې تړلي وه خو اوس هر یو بیل بیل ولایت

او ښاري حیثیت لري او نن په هر ولایت کې د حکومت او خلکو په ګډ کوشش د ټولو چارو د انکشاف او د ژوند د ښه کیدو له پاره کوشش

کیږي او د زابل، روزګان او هلمند خلک غواړي زموږ خلکو ته په کار دي چې د دولت د دغه پروګرام څخه چې غواړي دهیواد بیلې بیلې سیمې په متوازنه توګه انکشاف وکړي

او په بیلو بیلو ښارونو کې د صنعتي پانګې په کار اچولو له کبله خلک په ټولو ښارونو کې تمرکز او خپل فعالیت پرمخ بوزي ښه هر کلي وکړي او کوشش وکړي چې هر څوک خپل تجارتي او صناعتي فعالیتونه په خپل ښار کې

شروع او تولیدي دستګاوې په کار واچوي چې په دې ډول یې ښارونه د ژوند په نورو شقونو کښې هم پرمخ ولاړ شي او په کابل او نورو لویو ښارونو کښې په سرسام آوره ډول د خلکو د زیاتوالي مخ ونیول شي.

موږ د زابل، روزګان او دا ډول نورو ولایتو د خلکو نه غواړو چې د خپلو ولایتونو سره په دغه هکله زیاته سرسته وکړي او د مربوطو مقاماتو نه غواړو چې په زابل روزګان او نورو ولایتونو کښې د ګمرک

څانګې نلري د دا ډول څانګو د پرانستلو له کبله د زیاتو تجارتي او صنعتي فعالیتونو د پاره زمینه مساعده کړي.

«ایوبي»

د الحاج حبیب الله (سرپاس) ژباړه:

شعر څه شی

او

څه صفات لری؟

خمریات

پر هغو اشعارو باندی اطلاقیږی چی د ساقی، ساغر جام او د میخانی د مسایلو بحث پکښی شوی وی چی د عمر خیام رباعیات د خمری اشعارو بهترینه نمونه ده.

مناظره

هغه شعر ته ویل کیږی چی شاعر دوه شیان په خپلو اشعارو کښی په مباحثه او په گفتگوی راولی لکه: د انوری د باد و باران او د گل د سروی مناظره، یا لکه د شمعی او پروانه یا رایت او پرده د سعدی صاحب، لکه بورا او بلبل د ساوجی، یا لکه زاغ او د عنصری باز.

حسب حال

هغو اشعارو ته ویل کیږی چی شاعران د خپلو شخصی روحی تاثیراتو یا د خپل ژوند د شخصی اوضاعو په باره کښی ویلی وی لکه: د جمال الدین اصفهانی اشعار، او یا د نظامی اشعار چی د ژوند د آخر و مرحلو په باره کښی ئی حسب حال ویلی دی.

حماسی او مفاخره

هغو اشعارو ته وایی چی د تاریخی خوږو نکلو او داستانو په ضمن کښی د جنگو، حوادثو او د جنگی کیفیاتو شرح بیان شوی وی او ضمناً د ملی مفاخرو د شجاعت او د عزت نفس توصیف پکښی کی راغلی وی لکه د فردوسی شاهنامه؛ د انوری حماسی اشعار او دغه رنگه د مسعود سعد سلمان او خاقانی مشهوری حماسی.

ابن یمین خپل ځان تر عنصری، او انوری، او حدی، او خاقانی تر رشیدی و طواط په دې فن کښی ځانونه پورته بللی دی؛ دغه ډول دایلیا او د اودیسه حماسی د قدیمو اشعارو نمونی شمیرل کیږی.

شکوائیه

یو ډول اشعار دی چی شاعر د محرومیتو او د بدو وضعیتو، د خواری او حیرانی په قبال کښی شکایت کوی لکه: د انوری (د سفر شکوه)، د خاقانی (د زمانی د حوادثاتو شکوه) او د جامی شکوه چی د خلکو د جور او ستم څخه ئی کړیدی.

اعتذاریه

هغو اشعارو ته ویل کیږی چی شاعر پس لدې څخه چی د ممدوح د درگاه څخه تره ټل شوی وی د خپلو اتهاماتو او خطاؤ په رد کښی د عذر بساط غوړولی او عفوه ئې غوښتی وی.

د اسبک په عربو کښی سابقه لری لکه د جاهلیت په دوره کښی د ذمبیانی (اعتذاریه) چی د نعمان بن منذر د دربار د شړلو په مناسبت ئی ویلی دی، او د مسعود سعد سلمان (اعتذاریه) چی د حبس په دوران کښی ئې ویلی دی. دغه رنگه د فرخی د (قطران) د انوری دوې قصیدې چی یوه د (سلطان محمود) او دوهمه د (امیر یعقوب خان) د سلطان ورور د اعتذاریی په نسبت دی.

هجا، هزل، مطایبه

هزل او مطایبه د رذایلو او د قبایحو د ذکر کولو او د شخصی فضایلو او مکارمو نفی کولو څخه عبارت دی چی کله کله ئی مدحه او کله کله ئی هجوه وایی لکه د قاهانی هجو د دوستانو په حق کښی او د خاقانی هجو د رشید په حق کښی اما هزل هغو ابیاتو ته ویل کیږی چی د خندا او د مسخرو یوه قصه یا نکل په رکیکو الفاظو ویل شوی وی.

لغز، معما، دتاریخ ماده

(لغز) هغه اشماردی چی شاعر یوشی په نظر کښی ونیسی او دهغه صفات به متشابه او مشکلو عباراتو په کسوت کښی بی لدې څخه چی نوم ئی ذکر یا بیان کی لکه

د منوچهر لغز د (حمام) او د (شمعی) په باره کښی او (معما) هغه شعردی چی شاعر دیوشی نوم په ابهام او کنایه سره اظهار کړی.

د (تاریخ ماده) هغه شعر یا ابیات دی چی شاعر د ولادت یا د جنګ یا دیوه سړی د مرګ تاریخ په صریح ډول یا د ابجد به حساب پخپلو ابیاتو کښی راولی لکه: حافظ چی د خواجه قیام الدین په مرګ کښی لیکلی دی او دغسی نور.

د شعر او د نظم توپیر

یو نوع منظوم او مقفی تخیلاتو ته شعر ویل کیږی د شعر په تعریف کښی ویل شویدی چی شعر یو موزون او مقفی کلام دی، لاکن ممکن دی چی یو کلام شعر وی او

نظم نه وی چی پدې صورت کښی هغه منثور شعر، او په فرانسه کښی هغه ته Verbes -Libres وایی، او نظم په لغت کښی دتالیف په معنی او په اصطلاح کښی چی قافیه ولری موزون کلام ته ویل کیږی.

نثر

نثر په لغت کښی پاشلیدل (پراګنده) او په اصطلاح کښی هغه کلام ته ویل کیږی چی په وزن او قافیه باندی مقید نه وی، لیکن په عین حال کښی ډیر نثر و نه د موزون په حالت کښی ویل شویدی.

د شعر انواع او ډولونه

۱: بیت.
۲: رباعی.
۳: قطعه.
٤: مثنوی.
٥: قصیده.
٦: غزل.
۷: مسمط.
۸: ترجیع بند.

بیت

په لغت کښی د کور، معنی، او د ادبیاتو په اصطلاح دوو مصرعو ته چی قافیه ولری بیت ویل کیږی.

رباعی

رباعی د دوو بیتو (٤ مصرع) څخه عبارت دی چی بریو وزن وی او د دریمی مصرعی ماسوا په قافیه کښی سره متفق وی.

رباعی د دری د شعر د مختزعاتو څخه دی، عربان دوې بیتی د فارسیانو څخه اخیستی دی، د عمر خیام رباعیات یوه نمونه د درستو رباعیاتو څخه دی.

قطعه

عبارت له یو څو بیتو څخه ده چی د لومړنی مصرع مطلع د رلونکی نه وی او ویل کیږی چی قطعه باید له ۱۲ بیتو څخه تجاوز ونه کړی.

مثنوی

هغه شعردی چی بیتونه ئې د قافیی له حیثه یو د بله سره مختلف وی او هر بیت لره دوې قافیی وی، د مولوی مثنوی ئې صحیح نمونه ده.

قصیده

بریوه وزن او یوه قافیه باندی یو څو بیتونه دی او مشتمل وی پر یو مقصود او مطلوب باندی چی هغه هم مشخص وی لکه: حماسه، هجا، ثنا، لاکن پدې شرط چی اول بیت ئې مصرع وی.

څینو ویلی دی چی د بیتو اقل عدد ئې ۲۱ او اکثر حد ئې محدود نه دی ځکه څینو شاعرانو تر دووسو بیتو پوری قصیده هم ویلی ده.

د انوری، فرخی، خاقانی، ظهیر فاریابی قصیدې له دغو جملو څخه دی.

غزل

غزل په لغت کښی د ښځو سره خبری کول او په اصطلاح کښی بریوه وزن او قافیه باندی یو څو بیتونه دی چی له عاشقانه مضامینو څخه وی او په هغه کښی د معشوقی د جمال او د عاشق د احوال تصویر یکښی شوی وی او لکه قصیده د مطلع مصرعه ئې د قافیی په حرف سره موافق وی او ویل کیږی چی د غزل بیتونه د ۷ څخه تر ۲۱ پوری ورسیږی هغه ته تغزل ویل کیږی.

مسمط

لغوی معنی ئې یوه نوعه قلاوه او د نظم تار دی په اصطلاح کښی د یوې قصیدې د هم وزنو ابیاتو دسته

(نور په ۹ مخ کښی)

دژوندانه لاری:

دم، ناصر (نصرت) ژباړه:

په ټولنه کی محبوبیت

څرنګه کیدلای شی چی یو سړی په اجتماع کښی محبوب واقع او کومه لار غوره کړی چی له هر ډول خلکو سره ګډ ژوند وکړی؟ په خلکو کښی محبوبیت او د اجتماع په ښورنده غولی کښی لار موندل

چی هر سړی غواړی په دغسی لویه او سخته لار کښی دمخه سی یو خاص ډول (هوښ) یعنی (فکر) غواړی چی د روانشناسی پوهان ئې (اجتماعی فکر) بولی، دغه نوی

تعبیر ددې عصر روانشناسی له ابتکاراتو څخه دی ځکه تر دې دمخه ډیر لږ لیدل شوی دی چی پوهانو او لیکوالو دی له دغه تعبیر څخه کار اخستی وی.

ښایی چی یو څو کلمې لکه ذوق، چالاکی او پوهه تر یوې اندازی د «اجتماعی هوښ» په معنی کښی شاملی وی. لیکن د روانشناسی نوی بحثونه د دغه

تازه تعبیرونه د یو خاص مفهوم حکایت نه کوی.

د (هوښ) د کلمې یو ازنی مقصد په علمی او عقلی مسایلو لکه ریاضیات، طبیعیات، قانون، طب

سیاست، اقتصاد او نورو کښی ذهنی قدرت دی لیکن (اجتماعی هوښ) یو امتیاز دی چی هر څوک ئی ولری اجتماعی محبوبیت پیدا کوی او په آسانی سره په هر مجلس کښی لار موندلای شی، او ټولنی سعی کوی چی هر کله هغه

وځانته او ځان وهغه ته نژدی کړی، څو دهغه له نامه، نښان، ذوق او چالاکی څخه استفاده وکړی او په اصطلاح په حاضر یدو سره ئی خوندواخلی.

څرنګه چی د ذهنی هوښ او اجتماعی ترمنځ تو پیر شته یعنی ښایی چی یو سړی دی ذهنی هوښ ولری او له اجتماعی هوښ څخه دی بی برخی وی. او د اجتماعی هوښ څښتن دی له ذهنی هوښ څخه خلاص وی او حتی امکان لری چی یو

بی هوښ څښتن وی دا دی دلته یو مثال راوړو چی مطلب په ښه توګه درکړه شی.

یو سړی تقریباً خپل لس تنه دوستان او ملګری د یو مجلس د پاره غوښتی وه دهغه له جملی څخه یو نفر زمری نومیدی چی د حقوقو په شق کښی ئی تحصیل کړی او ښه صحبت ئی کاوه په دغه مجلس کښی وویل:

«نن ورځ دا کار موډ شوی دی هر څوک چی یو څو پیسی پیدا کړی یو ټکسی موټر رانیسی، کله چی تر یوی یا دؤ میاشتو وروسته خراب، او موټر وان ئې هم ځانته وګوری. نو په هغه ګړی پوه سی چی څه بد کار می کړی، او کشکی می ددې سودا پر ځای یو بله معامله کړی وای» بیا ئې وویل:

«...، رشتیا داده هغو خلکو چی انګلیسی ویلی، او یا څو ورځی ئی په امریکا او انګلستان کښی تیری کړی دی خورا مغرور او له ځانه خوښ دی، هغوی باید په یو عالم استغنا پیپ وکاږی او د خبرو په هره جمله کښی ئی یوه یا

دوې کلمې انګلیسی ځای شوې وی».

همداسی ئی پسی زیاته کړه چی:

«آیا دا لیونتوب نه دی چی سړی د ځان او یا د زوی په واده یا ښادی کښی په زرو روپی مصرف کړی. څو په دې صورت هغه د خلکو په نظر کښی یو اعتبار او

شهرت پیدا، او د دې کار لپاره ځان تر پورو لاندی کړی؟» زمری پر له پسی دغسی خبری تکرار او د خپلو خبرو په هره برخه کښی ئې پر ډول، ډول خلکو باندی چی

فلانی دا کار کړی او فلانی داسی عادت او عقیده لری حملی کولی د زمری د خبرو په ترځ کښی د کور خاوند بیچاره یو مټ شوی او په دې خوښ ؤ چی په دغه ګړی مځکه وچوی او دی په ننوزی.

ځکه چی د کور د خاوند یو میلمه چی (تورک) نومیدی او اړخ ته ئې ناست ؤ نوی ټکسی ئې رانیولی او بل میلمه ئې چی تورک) نومیدی او د زمری پر مخامخ ناست ؤ څو کاله ئی په انګلستان کښی

تیر کړی او د انګلیسی ژبی زیات شایق هم ؤ خو بد بختانه پیپ ئی هم څکاوه، بل میلمه ئی (سید ک) نامی چی څه پوخ سړی ؤ یوه میاشت دمخه ئی د خپل زوی د واده د پاره په یو لوی هوټل کښی د خوشحالی

مجلس جوړ کړی ؤ. دغو درو سرو خلکو د زمری وخبرو ته په خورا قهر او نفرت سره غوږونه نیولی وه زمری په خپلو ایله خبرو کښی هغه نیښونه چی هغو خلکو ته

ورجګوله ډیر ناروا کار، او بلکه د کور د خاوند د شرمندګی سبب هم ؤ ښایی چی زمری دی رشتیا ویلی او انتقاد دې هم پرځای ؤ، لیکن باید فکر ئې

کړی وای. څرنګه چی هلته ئی د مجلس د ټولو خلکو سره پوره آشنائی نه درلوده نو نه باید چی د خپلو خبرو نیښونه ئی د حاضرینو پر زړو جګ، او هم ئې د کور خاوند نه وای خجله کړی.

د دې د پاره چی زمری یو سړی په ناحقه له ځانه نه زهیر ولای باید په خپلو خبرو کښی محتاط او هم ئې څوک هدف نه واقع کولای یعنی د خلکو په باره کښی ئې په خلاصه خو له تبصره نه کولای.

زمری کولای شوای چی په هغه لس نفری ټولنه کښی ئې د ځان د پاره ډیر ښه دوستان پیدا کړی وای. په دې شرط چی خبری ئې چا ته نه راجع کیدلای بې دریغه

او نافهمه نه ګډیدای. د خپلو خبرو د پاره ئې موقع او د حاضرینو سابقه په نظر کښی نیولی. په غیر مستقیم صورت ئې د مجلس خلک نه سپکولای.

څرنګه چی زمری په هغه بې احتیاطی او نافهمی سره چی ده په خپلو خبرو کښی کار څنی واخیست نه یوازی دا چی د مجلس له خلکو

څخه ئې څوک د ځان د دوستی لپاره جلب نه کړه بلکه دوه، درې کسه ئې د ځان دښمنان هم کړل، او بله دا چی د کور خاوند که څه هم ئې صمیمی دوست ؤ دې ته وادار ه کړی او له ځانه سره ئې عهدو کړ چی زمری به بیا دغسی مجلسو ته نه ورغواړی.

ښکاره ده چی زمری که څه هم ئې تحصیل کړی، د معلوماتو څښتن او د ذهنی پوهی لرونکی ؤ خو بیا هم ئې دغه غټ نقص او لوی عیب درلود چی په اجتماعی ژوند کښی ناوارد او د معاشرت

د آدابو له استعداد څخه خلاص ؤ. ځکه د ذهنی استعداد او قابلیت سره اجتماعی پوهه هم لازمه ده، او وختی چی څوک له دې پوهی څخه بې نصیبه شو په خپل کار او پیشه کښی چی هر څومره باخبره

او متخصص وی بیا هم په جامعه کښی محبوبیت نه شی موندلای.

د همدې نمونی له مخی کولای شو چی په خپل ژوند او شاوخوا کی نور هم دغسی خلک ومومو، که څه هم په خلکو کښی

د دغه عیب معلومول ښکاره وی خو باید د لقمان په قول له هغو څخه ادب زده کړه شی. لیکن بې ځایه نه ده چی دې څو لنډو په زړه پوری لارښوونو ته چی روانشناسانو د اجتماعی پوهی د تقویی لپاره یا دی کړی دی ښه توجه وکړه سی:

۱- هر کله چی یو داسی مجلس ته چی هلته ډول، ډول آشنا او نا آشنا خلک حاضر وی ورسی، د هغو خبرو ته ډیر متوجه، او په خپله لږ خبری کوی. ځکه ماهر خبری کوونکی ماهر اورویدونکی هم دی.

۲- د خلکو حالت، حرکات او خبری تر ډیر دقت او مطالعی لاندی نیسی او خاص بیا متوجه سی چی حاضر کسان د

خلکو په باره کښی څه قضاوت کوی یعنی د هغو خلکو قضاوت په خپله د هغو خلکو له شخصیت سره پرتله، وینا او کردار ئې اندازه کړی.

د خلکو د حالاتو په باب مطالعه او څیړنه ښایی چی د کتاب تر مطالعی ګټوره وی. ځکه د کتاب مطالعه ښایی ذهنی هوښ زیات کړی لیکن اجتماعی

هوښ چه د اجتماعی ژوند په درد ډیر خوری په هغه سره لاس ته نه راځی بلکه په اجتماع کښی د خلکو سره په ګډون نژدیوالی سره پیدا کیږی.

۳- هر ځای او یا مجلس ته چه ورسی

په وعظ رول مه لوبوی ځکه اوس خلک له هغه چا څخه چه په هر وخت او هر ځای کښی غواړی چه ځان د نورو ښوونکی کړی ښه نه وړی.

٤- په هر مجلس، ځای او ټولنه کښی چه یاست له هغو وینا ؤ څخه

چه د حاضرینو دوستانو او ملګرو طبیعت په خرابیږی بیزاره اوسی او کوښښ وکړی چه ستاسی له خوا په مستقیم او غیر مستقیم صورت د حاضرینو د یو نفر د عزت او کرامت حس لکه داره نه سی.

۵- که وغواړی چه د مجلس له کومو خلکو سره په تماس کښی سی لومړی خوښه داده چی یو څه پخوانی آشنایی موجوده او روحیات ئی درمعلوم وی. که داسی نه وی نو په خبرو او صحبت کښی ډیر دقت او احتیاط په کار دی. (پاته په ۱۱ مخ کی)

قیام الدین «کشاف»:

له کابل نه رالیږنه:

ملی احساسات

څنګه چی ټولنه د افرادو نه تشکیلیږی د ټولنی مادی او معنوی مفاد هم د هغی د افرادو په خدمت او زیارګاللو پوری اړه لری که چیری د یوې ټولنی ټول افراد په هر کار او وظیفه چی بوخت وی د خپلی مادی او معنوی ګټی تر څنګ د ټولنی مادی او معنوی ښیګټی او عمومی مصالح په نظر کښی ولری او له هر فرد سره دا مفکوره موجوده شی چی د فرد شخصی مفاد باید د اجتماعی مفادو په ضمن کښی لاس ته راشی.

نو پدې کښی هیڅ شك نشته چی د هغی ټولنی اقتصادی، اجتماعی او سیاسی اوضاع به د ډاډ وړ، هر راز نیمګړتیاوی به ئی بشپړی او د لوړتیا پړاوونه به ډیر ژر ووهی او که فرضاً هر څوك د ژوندانه په هلو ځلو کښی خپل شخصی مفاد منظور ولری او بلکی خپل مفاد د ټولنی په امان کښی ولټوی، د ټولنی د رشد او تکامل مفکورې ته پخپل مغز کښی ځای ورنه کړی، نو د هغی ټولنی لوړتیا او پرمختګ یو غیر ممکن کار دی.

په ټولنه کښی د صداقت، امانت، انصاف، ښې رویی، ایثار، اتفاق، مرستی پاکی، اخلاص، ورورګلوی او نورو ښو خصلتونو تعمیم د ټولنی د پرمختګ زمینه برابروی او برعکس د درواغ ویلو، خیانت، ټګی، بدی رویی کولو نفاق، خودخواهی، بدبینی، بخل، ناپاکی، بی مروتی او نورو هغو افعالو تعمیم چی انسانیت او اسلام کر که ځنی کوی د ټولنی د پرمختګ لوی خنډونه شمیرل کیږی.

نو پدغه اساس د ټولنی هر فرد ته دا په کار ده چی اجتماعی مفکوره او د ملیت توده مینه په ځان کښی وروزی؛ خپل خیر او ښیګڼه د نورو په خیر او ښیګڼه کښی وغواړی د نورو د آرامی او سوکالی د وسایلو په برابرولو پسی د همت په کمربند ملا وتړی، د ټولنی د واقعی خدمتګارانو په صف کښی ودریږی د (خیر الناس من ینفع الناس) په تقاضا خلکو ته ګټه ورسوی، انفرادی مفکوره له دماغ نه وباسی.

که مامور وی باید له خپل ماموریت څخه یوازی خپله آرامی او د معاش پیسی سود ونه ګڼی بلکی د خپل خدای، د خپل وطن او د خپل پاچا او خپلی ټولنی سره په هغه شان چی د انسانیت او اسلام تقاضا ده ټینګه رابطه وساتی له رشوت اختلاس، خیانت، عوام فریبی، درواغ ویلو، ناپاکی او له هر راز ناوړو چارو او کرغیړنو اعمالو څخه ځان وژغوری، عفت او پاکی، ایمانداری، صداقت اخلاص او مروت له خپلو وجدانی وظایفو څخه وګرځوی.

که چیری د کام او ولس سپین ږیری وی او په ولسی چارو کښی د خلکو د اعتماد مورد وی باید د کور او کلی، کام او ولس ترمنځ داسی رویه وکړی چی د هغوی د اتفاق، اتحاد او دوستی مزې ټینګ شی، د ګډی همکاری او اسلامی ورورګلوی روحیه تازه او ژوندی شی یو د بل تکلیف ته د پوره صمیمیت په فضا کښی د مرستی اوږه ورکړی په هوسائی ئی خوشاله او په درد ئی دردمن شی نو تل هڅه وکړی چی د خلکو کورنی جنجالونه او شخړی په سودمنو توصیو له منځه یوسی نه داسی چی د خپل مشرتوب څخه ناوړه استفاده وکړی د کور او کلی، کام او ولس ترمنځ د نفاق او بدبینی تخم وشیندی، د چغلی او دوکه ماری په وسیله د هغوی شپې او ورځی ترخی او ذات البینی علایق ئی سره وشلوی چی په نتیجه کښی د کور او کلی خلك یو د بل وینو ته انتظار او یو بل ته د دښمن په سترګه وګوری.

که چیری تجار یا دکاندار وی باید خپلی شومی سترګی د اخیستونکو مالونو ته په ناروا پټی نه کړی خپل مال او متاع په داسی مروجه او مشروع بیه خرڅه کړی چی له یوې خوا نه پخپله ده ته پکښی ګټه وی او له بلی خوا نه د اخیستونکو مال

د خارجي منابعو څخه :

د عبدالصمد نصرخواه ژباړه :

په فرانسه کښې تعلم او تربیه

فرانسه هغه دولت دی چې له ډیرو پخوانیو وختو څخه ئې د تعلیم او تربیې په برخه کښې اقدام کړی او دهغه د تعمیم لپاره ئې پوره هڅه کړی ده، هغه وخت چې پوهنه، کمال او د تحصیل مشغولیت په کلیساؤ اړه درلوده د لومړی محل د پاره ئې په ۱۲۵۳ ع کال کې یو عمومی کالج Robertde-saron په نامه جوړ او منځته راوړ چې دغه اقدام د فرانسې د نامتو پوهنتون Sorbonne پایه او اساس و بلل شو په ۱۷۹۱ کال کښې د مارس د دریم فرمان په اثر د مکتب ټول وګړو ته د آزاد تحصیل حق ورکړه شو او په ۱۸۰۸ کال کښې د مارس داوه لسم فرمان له مخې سلطنتي پوهنتون پرانستل شو او دغه پوهنتون د ناپلیون بناپارت پوسیله ډیر وسعت وموند او د ښوونې په برخه کښې ئې ښه نقش ولو باوه خو په ۱۸۸۰ کال کښې د مملکت ټولو نجونو ته هم د تعلیم کولو حق ورکړه شو او وروسته په ۱۸۸۲ کښې ابتدائي ښوونه وړیا او اجباري اعلان شوه او د دغو تحولاتو په نتیجه کښې د فرانسې د بیسوادو وګړو شمیر په سلو کې شل تنو ته ورسید خو په ۱۹۱۰ کال کښې دغه شمیر ډیر کم شو او یوازې په سلو کښې څلور تنه بې سواده پاته شوه په تیرو کلو کښې د فرانسې اجباري ښوونه د ۶ کلنې څخه تر ۱۴ کلنې پورې وه خو په ۱۹۶۷ کال کښې ځینې پلانونه جوړ وطرحه شول چې دهغه له مخې اجباري ښوونه تر ۱۶ کلنې پورې شوه په فرانسه کښې د لومړی دوری د تحصیلاتو موده پنځه کاله ده نو هغه کسان چې تر ۱۶ کالو پورې خپل تحصیل ته دوام نه ورکوی او یا ئې نسي ورکولای دهغو لپاره د لنډې مودې چانسونه هم سته چې د ښوونې په ضمن کښې ځینې کسبي او فني ښوونې هم ورته کیږي .

نوی ښوونځی :

فرانسه لومړی دولت دی چې د دوهمې عمومي جګړې وروسته ئې خپل تعلیماتي پروګرامونه نوی کړل تر پنځو کالو مطالعې او بررسي وروسته ئې په ۱۹۵۲ کال د نوی مکتوب په ټولګیو کې د Pilotes په نامه نوی ټولګی تأسیس کړل چې تر اوسه پورې څو محله دغو پروګرامونو هم د نوی ایجاباتو له مخې تغیر موندلی دی حتی په اوسنیو وختونو کښې د وروستیو تحصیلاتو لپاره د وروستیو تغیراتو له امله کتاب وجود نه لري .

ملي ښوونځی :

د نورو راز راز اقداماتو په ضمن کښې د ۱۹۵۹ کال د دسامبر په ۳۱ د ملي ښوونځیو لپاره یو قانون جوړ شو چې دهغه له مخه ټوله ملي ښوونځی د دولت د اعانې او کومک څخه د خاصو شرایطو په اثر برخه اخلي او دغو ټولو ښوونځیو ته د دولت له خوا په مرتب او منظم ډول رسیدګی کیږي باید وویل شي چې د فرانسې د پوهنې وزارت پنځه سوه زره غړي لري خو د ټولو ښوونځیو د تعلیماتو نګرانی او څارنه ۶۰ لایقو تنو ته اړتیا لري چې دغه ۶۰ تنه په کال کښې دوه یا درې پلا په منظم او مستقیم ډول د ټولو ښوونځیو د ښوونې پروګرامونه تر خپلې پاملرنې لاندې راولي دغه کسان چې پخپله د پوهنې د وزیر له خوا د ځینو شرایطو په اساس انتخابیږي د نورو هغو ښوونکو له ډلې څخه دي چې د وی ډیر محبوبیت او شهرت لري او هم د ښه نظر او سلیقې خاوندان دي د دوی څارنه چې د مملکت د ۱۹ ولایتو په ښوونځیو کښې کیږي د نتیجو اخستلو په ضمن کښې د نوی پروګرامونو په طرحه کولو او تدریس د نوی روشونو په غوره کولو کښې هم برخه اخلي او خپلې نظریې څرګندوي .

ازموینې :

د فرانسې د لومړنیو او متوسطه ښوونځیو په ټولګیو کې د ازموینې طرز زموږ د ننیو ازموینو په څیر نه دی هلته تحریري ازموینه تقریباً له منځه تللی ده

دښوونکو او مکتب دښوونکو د شورا نظریه د هلکانو په نمرو کښې ډېر مؤثره ده او یا هغو نمرو ته اهمیت ورکول کیږی چې هلکان د یوه تعلیمی کال په ترڅ کې اخستی وی، خو یو هلک د مخه تردې چې د مکتب دوره پای ته ورسوی د ډوډو روستنیو کلونو آزموینه ئې د پوهنتون د پروګرام سره سم د پوهنې د وزارت د مستقیمې څارنې لاندې بشپړه کیږی مګر د ډول ازموینو په برخه کښې هم نوی څېړنې روانې دي.

د ښوونکي روزنه:

فرانسه چې ۱۹ ولایتونه لري په هر ولایت کښې ئې د هلکانو او نجونو لپاره تربیتي مقدماتي کورسونه جوړ شوي دي او دغو کورسونه د مسابقې په ډول هغه کسان چې لږ تر لږه اې مکتب څلور کلنی دوره تیره کړی وی او یا د عمومي معلومات ولري شاملیدلای شي د کورسو دوره درې، څلور او پنځه کاله ده چې دا البته د ښوونکي د تحصیل په درجه او میزان اړه لري مګر د دغو کورسو په ډوډو روستیو کلونو کښې یوازې د ښوونې او تربیې مواد و تدریس کیږی هغه ښوونکي چې تر بارد باندې کلیوته استول کیږی هغوی د کلیو د مشرانو سره د کلیو په ټولو چارو کښې پوره مرسته کوی او هر وخت دغو ښوونکو ته د لوړو تحصیلاتو چانسونه هم سته او کولای شي چې د څو کاله په موده کښې خپل تحصیلات د پوهنځي حتی تر هغه په لوړه سویه وکړی نن ورځ په فرانسه کښې په سلو کې پنځه ویشت د لوړو او عالي تحصیلاتو خاوندان دي او دغه کسان د ځینو مخصوصو امتیازاتو څښتنان او د ۱۸ ساعتو څخه به هفته ۱۵ ساعته تدریس کوی

د فرانسې عالي لیلیه کورس چه په ۱۷۹٤ ع کال کښې د ښوونکو د روزنې لپاره تأسیس شوی دوي علمي څانګې لري چې هره څانګه ئې په کال کښې ٤٥ تنه د مسابقې په ډول منی.

په فرانسه کښې پر دغو مدرسو سر بیره نوري مخصوصې مدرسې هم شته چې د تدریس پخپلو جا لبو طرزونو سره د ښاته کو چنیانو کښې او ښاروند ته روزلو کښې مهمه برخه لري.

بدني روزنه:

په فرانسه کښې بدني روزنه ډېر اهمیت لري په تیرو کلو کښې د هلکانو ورزش به صنفي ښوونکي اړه درلوده خو اوس د دغه کار لپاره مخصوص ښوونکي روزل کیږی چې د هغو به وسیله بدني روزنه سرته رسیږی، که څه هم د ورزش او سپورټ آزموینې په ښوونځي کښې اختیاري شکل لري خو د بکلوریا په دوره کښې په اجباري ډول دې څرنګه چې په دې وروستنیو کلونو کښې سپورټ ته ډېره پاملرنه شوې ده نو ځکه ورزشي مؤسسې ډېره براختیا موندلې ده حتی بدني روزنه د فکري روزنې په شان پرمخ روانه ده.

په فرانسه کښې بې له دغو مدرسو نه نور تربیتي کلپو نه او مؤسسې هم شته چې د ځوانانو په ښوونه او تربیې چارو کښې پوره اهمیت لري.

(٦٥ مخ پاته)

ملي احساسات

بې ځایه ولاړنشي نه داسې چې د کاندار په خپل مال په ناحقه قسم وخوري، ردي متاع دنوي متاع په بدل تیره کړی هغه هم یا په تله کښې او یا په ګزه کښې چم وکړی چې په دغه صورت دغه راز د کاندارانو دهغو کیسه برانو چه په لویه ورځ تیره چاره ورسره وی او د مسلمانانو له جیبونو څخه د هغوی پیسې په بیرحمانه ډول د اختلاس په توګه وړی هیڅ کم نه دی که چیری د طب ډاکټر او یا متخصص وی هغه باید د خپل مادي مفاد په څنګ کښې خپل معنوي مفاد هم په نظر کښې ولري هغه داچې د ناروغانو د روغتیا او صحت موندلو لپاره خپل ټول کوښښ او وسه په کار واچوی د پوره ایمانداري او صداقت له مخې د ټولنې د ناروغانو خدمت وکړی نه داچې د هغوی پیسې د فیس شکرانې او .... په بانه واخلی او سره له دې هم د هغوی په ژوند باندې لوبې وکړی او هیڅ د یو انسان د حیات په ارزښت نه وی قایل.

که چیری معلم وی هغه باید د ښوونکي لوړ مقام او چت حیثیت، د دیني او اجتماعي ارزښتونو په مراعات کولو سره د ټولنې اولاد چې د سبا لویان دي د وخت له تقاضا سره سم داسې وروزی چې له یوې خوا نه دیني شعایرو او مذهبي معتقداتو ته او له بلې خوا نه خپلو ملي او اجتماعي نوامیسو ته په درنه ستر که وګوري نه داسې چې د هغوی له اخلاقو او اعمالو څخه ناخبره وی او یوازې روزګذرانې غنیمت کړی.

خو لنډه داچې که چیری د دغه دوو مثبتو او منفي اړخونو له جملې څخه چې د هر انسان په ژوند کښې موجود دي مثبت اړخ په کار واچول شي او د مرو به ټولنه د ترقي له کاروان سره یو ځای شي او که چیری منفي جنبه تعمیم شي نو د ټولنې لوږ تیا محاله خبره ده.

سردار محمد «زهیر»:

روحی اضطراب

او دهغه علاج

د مضمون لیکونکی

خپلوان، دوستان، علاقه‌مندان او شناخته‌گان کله چی یو د بله سره وویني او یا یو ځای سی ددې دپاره چی د دوی ترمنځ خپلوی، دوستی، شناخت او تعلق څه‌تر اوسه ټینگ او یو تر بله ئې مینه او محبت زیات شی، یو د بل د حال او احوال پوښتنه سره کوی.

په داسی حال کښی چی هغه یو به میل دخندا ورته تللی وی، دهغه بل به تر ستر گو داوښکو ولاړ بهیری یا به یو هم گریانی ورته کوی او هغه بل به هم دغم رباب ورته کوك کړی وی.

داسی هم پیښیږی چی یو دی هم د خوښی او خوشحالی بیان کوی او بل دی هم د خپل رضائیت او ښې روحی اظهار کوی خو ډیر و کسانو څخه چی پوښتنه وکړی زیاتره دژړه په دوك اخته او د هری خوا او له هره بابته یو لړ شکایتونه بیانوی.

دچادا ډول شکایتونه یو واقعی شکل لری خو د چا هغی صرف ددې دپاره چی د خبرو یو مضمون برابر او جوړشی دهریخوا چی وی مطلب ته کی ژوی یا ته کی نه اچوی خوده په خیال او ده به فکر چی هر کار او هر شی ویجاړ او خراب به نظر و روحی به هغه باب کښی نظریات محرگند وی.

یا بخپله دسړی دخپله ځانه سره فکر او چرت مردار او خراب، وی موجوده حالت او یا د اتلو نکی زمانه او یا خپل حال او احوال او یا د نورو دهغی له اضطرابه ډك او پرو پیمانه بولی دا ډول روحی اضطراب او پریشانی نن او پرون خپله ریښه خودا ډیره محفلولی او دې مرض و ناجوړی خودا ډیر خلك به سر نیولی دی.

د بله طرفه له دې ناجوړی او ناسازی یعنی لدې روحی اضطراب او پریشانی څخه خلاصیده هم یو اسانه کار نه دی او دا یوه کله یو سر او یو ماغزه او ککری غواړی چی له داسو واقعی او یا غیر واقعی اضطرابا تو څخه دی سړی ځان خلاص کړی.

صبر، حوصله، ټینگار او استقامت داغلی دی، اما ددې شیانو کاسې خودا د دنې او د هرچا دلاسه نه ده پوره چی دا کاسې دی بو ته کی او یا دی تر ځایه ورسوی مگر د صبر، حوصلی او استقامت د دنو کاسو پورته

(د ۳ مخ پاته)

شعر څه شی ....

دسته کولدی یدې طرز چی آخری مصرعه ئې په قافیه کښی سره موافقه وی او د هری دستی نوری مصرعی په قافیه کښی سره موافقی او د آخری مصرعی سره مخالفه وی لکه دمنوچهر مسمطات چی مشهور دی.

ترجیع بند، ترکیب بند

ترجیع بند داسی دی چی یوه قصیده برخو قطعو باندی وویشی چی قوله به وزن سره متفقی او قوافی کښی مختلفی وی او هری قطعی ته شعرا کود (خانه) وایی او دهرو دوو خانو ترمنځ چی فاصله پیدا کیږی دغه ځای دپاره علیحده مفرد بیت جوړ کاندی چی دغه بیت ته ترجیع بند ویل کیږی، بیانو دشاعر خوښه ده چی دغه بیت د قولو خانو دپاره ترجیع بند ګاکی او که دهری خانی دپاره جلاجلا ترجیع بند جوړ وی. که چیری شعر د قصیدې په فواصلو کښی مکرر داسی باقی اقسامو ته ترکیب بند ویل کیږی لکه: د جمال الدین اصفهانی، خاقانی، سلطان ساوجی او دهاتف ترکیب بندونه.

(نور بیا)

کیده او تر ځایه رسیده ځان ته اصول او ترتیب لری چی که هغه په هغه ترتیب پورته کړه شی نو بیا تر ځایه هم په آسانی سره رسیږی.

که موږ ؤتاسی له خپله ځانه سره لږ قدری حساب راواخلو او پردې خبره فکر وکړو داچی قانون داسی راغلی دی چی هر شی

په اضدادو سره پیژنده کیږی یعنی که شپه نه وای نو ورځ به چا نه پیژندله او که ناجوړی نه وای نو دصحت درك به چاته نه وای

معلوم، او که غم نه وای په ښادی به څوك نه پوهیدلای له دې قسمه نور او نور شیان نو ددې دپاره چی په دنیا کښی آبادی او تعمیر

راسی ددغه آبادی او تعمیر یو اساسی رکن خرابی بلل کیږی یعنی تر هغو څو یوشی یوازی خراب نسی بیا آبادیدای هم نسی

بلکی آبادی او تعمیر وهغه شی ته راځی چی هغه خراب او ویجاړ وی نو که یوشی خراب او ویجاړ نه وی د دغه تعمیر او ودانی هم نسی راتلای.

نو لکه د دنیا ژوند او یا دنیا چی آبادی او تعمیر ته ضرورت لری همدا رنګه خرابی ته هم احتیاج لری؛ که غواړې چی

صلح او امن دی قایم سی باید یوار جګړه او بې امنی هم جوړه سی همدا وجه ده له هغه تاریخه چی

انسانان پیدا شویدی بیا تر اوسه پوری ددې دپاره چی آبادی او تعمیر دی راولی تل مدام په جګړه

او بد امنی مبتلا دی.

راسی وګورئ موږ ؤتاسی څومری کوښښ او زیار باسو چی په یوه چم د چمو ځان له مرګه خلاص کړو او سره

زموږ له دونه ډیره کوښښه بیا هم له مرګه نسوای خلاصیدای او په پای کښی بیا هم مرو.

ښه که موږ نه مړه کیدای او دغسی ژوندی ژوندی وای مګر اوس به دغه انسانان دمځکی پر مخ ځای شوی وای؟ خو څه حال به وای؟ ټولو به بیا هم لکه

دګور چنجیانو سره خوړلای پدې لحاظ چی د یو شمیر ژوند دی په راحت وی د هغه بل شمیر دپاره مرګ راغی ګواکی ددې یو شمیر انسانانو ژوند دهغو نورو

انسانانو پر مرګ باندی موقوف سو همدا قانون په نورو کاینانو کښی هم جاری ساتل شوی دی، مثلا په یو ځای کښی ونی او نهالان ایږدو کله چی

نهالان او ونی ولګیدی بیا ئې (څنګه) کړو او بیا په پسی یو دهری یوې ونی نهال لاس ؤپښی او ښاخونه اره کوو کله چی بدغه ترتیب خرابی پکښی راولو دهغه آبادی پر موقوفه سی.

دلته که تاسی ماته لاس راونه چوی او پر سرمی ونه ټکوی ښایی زه دی وویلای سم چی انسانی ژوند څنګه لکه اجتماعی ښیګڼو او ښو اخلاقو ته چی

احتیاج لری، همدا راز ټولو مفاسدو او بد اخلاقیو ته هم ضرورت لری او که ئې ضرورت نه درلودای نو بیا څه لازمه وه چی دغه بد اخلاقی منځ ته راتلله.

خو دغه بد اخلاقی ته ضرورت ددې خبری موجب سوه چی پخپله بد اخلاقی ئې منځ ته راواچوله.

که څه هم په عین حال کښی انسان مکلف دی چی باید تل مدام ښه کار وکی

او د بدو څخه پیزاره وی اما بیا هم هغه دی څومری چی ښه کوی بد هم کوی؛ که چیری انسان ملکوتی

ژوند اختیار اوله یوه مخه له مفاسدو څخه لاس واخلی ګمان

نه کوم چی دنړۍ دژوند اربه ذی وچلیږی او که پر یوه مخ ټوله ټولو مفاسدو ته ملاوتړی خو بیا بیخی نسی چلیدلای.

دلته زه نه غواړم چی دا جرئت او اجاز. چاته ورکړم چی باید دمفاسدو او خیانت کاریو او نورو جرایمو پر کولو لب او دریغ

ونه کړی بلکی دامی تر دې پوری وویل چی یعنی انسانی ژوند ددې دپاره چی باید پر یوه انتظام او سرښته وچلیږی ددغه چلاو یو

رکن ویجاړی ده، ددغه اصول له مخې ټوله هغه دردونه، رنځونه غمونه، مصیبتونه که مادی وی که معنوی او یا روحی دا ټوله ددې

دپاره دی چی انسان په ودان سی نو هر درد او هر رنځ او هر ډول زحمت او هر رنګه تکلیف، مشقت او هر قسم روحی اضطراب د

انسان دژوند اساس او یو معیار دی لوږه، تنده پخپل ذات کښی هم ځان ته یو آفت، غم، درد او مشقت دی مګر که انسان پدغه رنځ

او پدغه مصیبت اخته نسی خو بیا به د هیڅ شی پر خوړلو خوند نه واخستلای سی داچی سړی د یوه شی پر خوړلو خوند اخلی دغه

خوند هغه وخت موجودیدای سی کله چی دی وږی او یا تږی سی نو دغه لوږه او تنده که څه هم یو

مصیبت او درد و غم او رنځ و مشقت دی لیکن په معنی کښی عین نعمت بلل کیږی.

دا چی یو سړی وږی او یا تږی سی باید متاسف نه سی هم دا راز نه باید په ټولو مصایبو او رنځو او تکالیفو او نورو روحی اضطراباتو کښی جلوله لاسه ورکړی ولی چی غیر دلوږی له رنځ او محنته نور ټوله روحی اضطرابات او دردونه او شکایتونه ددې لپاره منځ ته راغلی او راځی چی پر هغه لکه دنس مړتیا او دتندی رفعه کیده دا ډول یو امن او صلحه او یا خوند او ښکلا موقوفه ده کله دیو درد او غم او مشقت یا یو زحمت او تکلیف نتیجه په خپله هغه چا ته رسیږی چی دی په خپله په اخته سوی دی خو کله دا نتیجه له هغه څخه خطا سی او نور څوک په منتج او فایده من سی.

مثلا لکه یو سړی چی په سوداګری او تجارت کښی ګټه او یا تاوان وکی، که ګټه وکی دغه ګټه هغه وخت کولای شی چی نورو رته په تاوان کی سی او کله چی دی تاوان وکی دغه دده تاوان دنورو دګټی او نفعی سبب ګرزی په دغه ځای کښی دانسان دپاره یو اجتماعی او دورو رګلوی او انسانی رویی حس په کار دی هغه دا چی که ما تاوان وکی پروا نه لری هغه بل ګټه وکړه او دا ګټه دهغه بل سړی په کور کی پاته سوه او دا ګټه چی موږ غواړو وکو ددې لپاره چی د تاوان او نقصان په عوض کښی ئې ورکړو چی زموږ دغه تاوان او نقصان بیا د نورو په ګټه تمامیږی تاوان او نقصان یوازی دا نه باید و بلل سی چی مال تر اصلی سر خرید ارزانه ولاړ شی بلکه ټوله هغه مصارف چی یو سړی ئې دژوند د کولو دپاره کوی هغه ټول دحساب دقانون په اساس دضرر او نقصان په جمع کښی نیول کیږی.

چی په واقع کښی زموږ په دغسی نقصان او ضرر دبل سړی کورودانیږی.

تر دغه کوچنی نقصان او تاوان ځکه چی حد او فاصله ئی لنډه ده او هر سړی ښه پوهیږی نور دا ډول لوی نقصانونه او تاوانونه موجود دی ځکه چی د هغوی حد او فاصله خورا اوږده ده نو موږ نسوای کولای چی دهغه نتیجه دی دسر په سترګو ووینو حال دا دی چی په پای کی هغه هم دیو چا په ګټه او مفاد تمامیږی.

ددی دپاره چی د کلاوې سر راڅخه اوږدنه سی او احتمال لری چی موږ دی تر یوې اندازې دګرانو ویونکو قناعت حاصل کړی وی.

راغلو دې خبری ته چی اوس به نو موږ آیا یو ځای آرام کرار کښینو هر څه چی کیده هغه به کیږی او هره ټکه او هر مصیبت او هر درد او هر غم چی را باندی نازل کیدی را باندی نازل کیږی به؟ موږ به دهغو څخه دخلاصون دپاره هیڅ ډول کوښښ نه کوو؟

یه دا سی هم نه ده بلکه انسان مجبور او مکلف دی چی تر خپله وسه وسه پوری به په فردی او اجتماعی ډول دهر ډول مادی او روحی اضطراب په مقابل کښی په تمامه معنی ځان وساتی او دهر ډول وسایلو او وسایطو څخه به کار اخلی.

کله چی دده په قوت او دده په قدرت کیده کیږی به مګر کله چی تر طاقت او قوت تیره سوه نو بیا څه رنګه لکه چی موږ دمخه تر دې وویل کوم اضطراب چی دطبیعی قانون له مخی راتلونکی ؤ او لکه دطوفان او یا یوه سیلاب مخه چی نه نیول کیده نو نه به نیول کیږی په دې وخت کی باید دانسان فکر ددغه طبعی قانون اساس ته عطف او چارؤ ناچار په تمامه او کامله معنی او حوصله ځان هغه طوفان ته په ډاډه زړه وسپاری.

(پای)

(د ۵ مخ پاته)

په ټولنه کښی ...

۶- په اجتماعی چارو کښی د خلکو عقیدی محترمی شمیری که څه هم ستاسو د عقیدو مخالفی وی.

۷- دمجلس زیاتره ملګری که په یو مناسبت و خاندی او تاسی ته خندانه درتله په هر ډول چه وی لږ او ډیر ئی ملګری کوی، او که چیری ئی دیو شی تعریف، یا دچا ستاینه شروع کړه په هغه کښی هم اشتراک ورسره کوی لیکن له مبالغی او ډیرو خبرو کولو څخه بیزاره اوسی.

۸- ستاسی ناسته، ولاړه فقط ستاسو په رنګ خلکو پوری محدوده نه وی یعنی له هغو کسانو سره چه صفتونه ئی نسبت و تاسی ته توپیر لری هم ناسته ولاړه ورسره اختیار کړی.

۹- که څوک تاسو ته دخپلو رازو د ساتلو توصیه وکړی ښایی چه د یو امانت په توګه یی وساتی ځکه که مو دچا رازو نه ساته دخلکو اعتماد در باندی سلبیږی.

۱۰- دا بده نه ده چه په یوه اندازه کښی خوش طبعه او ټوکی اوسی لیکن سعی وکړی چه په چوکاټ کښی وی او هم دشوخی او ټوکو موضوع موښکاره خلک او کسان نه وی.

دخارجی مطبوعاتو نه:

د ایوبزی ژباړه :

د ژبی اختلاف

دیوه لغت په ترجمه کښی اشتباه څه ډول ددولګو تنو دوژلو باعث وګرزید ؟

دجاپان مشرانو چی دهیرو شیما دناوړی پیښی څو میاشتی دمخه ددغی واقعی اړکل کاوه ، چی په دوهمی جهانی جګړه کښی به مات شی تل دسولی د پیشنهاد دپاره د یوه مناسب فرصت په تلاش کی وه .

د ۱۹٤٥ کال د جولائی په کښی د «پوتسدام» اعلامیه په هغه صورت کښی چی جاپان تسلیم شوی نه وای ددې دلیل ؤچه د متفقینو لخوا هغه هیواد محاصره شی جاپان مناسبه موقع وموندله چی جګړه بربیږدی .

دجاپان دهغه وخت صدراعظم او کابینی چی میل ئې نه درلود هغه اعلامیه رد کړی، په دغه پکله ئې په مطالعه بیل وکړ، خو سمدستی د تصمیم نیول ورته ډیر سخت کاږ،

دبلی خوا دجاپان مطبوعاتو او خلکو ټینګار کاوه چی ددغه هیواد کابینه دی بې له تمللل څخه خپله نظریه څرګنده کړی، په پای کی دهغه وخت صدراعظم «سوزکی» دتودی دفشار په مقابل کښی چی ډیر بې تابه وه وویل چی په دغه باب دده حکومت د (موکوساتو) سیاست غوره کړی دی .

دموکوساتو کلمه نه یواځی په انګلیسی ژبه کښی دیوه مرابری معنی نه درکوی بلکه دجاپان په ژبه کښی هم ددوه اړخیزه او مبهم په معنی راغلی دی او په دې معنی چی هم امکان لری دعقیدی په اظهار نه کولو او هم اعتنی نه کولو او بی اهمیته شمیرلو ترجمه شی .

البته دصدراعظم مقصد داوچی کابینی په دغه هکله قاطع تصمیم نه دی نیولی ، خو دجاپان جریدو ددغی کلمی څخه دوهمه معنی چی توجه نه کول او بې اعتنائی څخنی مراددی واخستله او دغسی خبرې ئې قوله نړی ته مخابره کړی، تر دغی تبصری څو ورځی وروسته پر هیروشیما اوناکاساکی باندی اتومی بمبونه واچول شوه او ددوهمی لوئې جګړې ستره فاجعه ئې منځ ته راوړه .

دغه حقیقت دجاپان د (نی یون ټایمز) دورځپاڼی پخوانی چلوونکی کاسیوکاوی څرګند کړ او دغه بیخه څرګندوی چی دژبی اختلاف او دلغاتو تعدد دخومره اهمیت لری او دبین المللی تفاهم دمنځ ته راتلو په لارکی څه ډول اغیزه کولای شی او دشلم قرن انسان سربیره پر علمی او صنعتی پرمختګونو بیاهم دهغه په حل کولو بریالی شوی نه دی .

دملګرو ملتو په مؤسسه کښی هره رسمی بیانیه باید په پنځو بیلو بیلو ژبو ترجمه شی (پر ته له نورو غیر رسمی ژبو څخه) او دا کار په خپله ددغی مؤسسی په اداری جریان کی سستی راولی، یوسلو څلویشت تنه ٤٠٠ ساعته کار کوی څو چی یو ساعته یوه انګلیسی، فرانسوی، اسپانوی روسی او چینی بیانیه ترجمه کړی، دې تنه هر یو باید شپږ ساعته کار وکړی څو چی یوه انګلیسی بیانیه په روسی ژبه واړوی او یو ژباړونکی باید دیرش ساعته وګالی چی هغه بیانیه په چینی ژبه ترجمه کړی .

د ۲۰ ملیونو کلمو ترجمی لپاره چی دیوې هفتی په موده کښی دملګرو ملتو په مؤسسه کښی خبری پرشوی دی په پنځو بیلو بیلو ژبو یو واحی یوسلیون پاڼی کاغذونو ته اړتیا لری .

دغه مؤسسه یو له هغو زرګونو مؤسسو څخه ده چی په نړی کښی هر کال زیات لګښتونه یواځی دترجمی لپاره ایجابوی، څرګنده ده چی دمهمو علمی، تجارتی ، سیاسی، تربیوی او نورو منابعو څخه چی په نړی کی په بیلو بیلو ژبو کښی شته یواځی هغه کسان استفاده کوی چی دنړی په اصلی او مهم

ژبو پوهیږی او نور کسان دهغو څخه گټه نشی اخستلای.

هغو کسانو چی خارجی هیوادونو ته سفرونه کړی دی په ښه توگه پوهیږی چی د ژبی د اختلاف مسأله څومره د تکلیف

او محرومیت وسیله ده، حتی دیوه هیواد د اوسیدونکو د پاره چی په بیلو بیلو سیمو کښی اوسیږی دغه مشکلات د بیلو بیلو ژبو او علیحده لهجو له کبله وجود لری.

نن ورځ چی هر څوک په څو خارجی ژبو ښه پوهیږی ټول خلک ئی احترام کوی خو باید ووایو چی د دا ډول خلکو شمیر ډیر لږ

او کفایت نه کوی، په یوه یا څو خارجی ژبو پوهیدل زیات وخت ډیره مطالعه، تجربه او تمرین غواړی او دا دیوه یا دوو کلونو کار نه دی.

د ملگرو ملتونو د مؤسسې رسمی ترجمان چی ادعا کوی په ۶۶ خارجی ژبو پوهیږی یو استثنائی سړی دی او بیا هم نشو منلی چی

هغه دی په دغو ټولو ژبو کښی پوره تبحر ولری حال دا چی په نړۍ کښی اوس په ۳۵۰۰ بیلو بیلو ژبو خبری کیږی.

په متوسط ډول د ملگرو ملتو د مؤسسې هر ترجمان په درو ژبو پوهیږی او د هغو معلوماتو او اطلاعاتو لاس ته راوستل د کلونو

کوشش او زحمتکښی نتیجه ده سر بیره پردې چی د دغو ترجمانانو زیات وخت په ترجمه تیریږی خپل نور وخت په مطالعه او د ژبی

په څیړنه کښی تیروی.

باید ووایو چی په اوسنی لویه نړۍ کښی تر ۸۰۰ یا ۹۰۰ ماهر او تکړه ترجمانانو زیات نشته او دغه لږ کسان

په دغه هکله د نړۍ والو مشکلات نشی حل کولای، او د کمپیوتر او ماشینی ترجمې په کار متخصصین او پوهان راضی نه دی او خوش بینی نه ورته

څرگندوی او پدغه دلار کښی اساسی مشکلات شته چی باید حل شی دا ځکه ترجمه دا نه ده چی د یوه لغت پر ځای بل

لغت راوړل شی کوم شی چی پدغه کار کښی اهمیت لری هغه اصلی مطلب او د هغه ایفاده کول دی.

د ډیر وخت په تیرولو سره چی د دغو تخنیکی دستگاه ؤ په چمتو کولو او ډکولو کښی سرته رسیږی بیا هم نشی کولای چی دیوه ژوندی ترجمان کار دی اجرا کړی او کله کله په دغه کار کښی اشتباهم پیښیږی.

هر څومره وخت چی د ژبی په زده کړه کښی تیر کړو، په هره اندازه زحمت چی د کمپیوترونو او تخنیکی ماشینونو د تکمیل په لار کښی وکاږو هر څونه

پیسې چی د تکړه او ماهرو ترجمانانو په زده کړه کښی خرڅی کړو په دغه هکله بیا هم د ټول بشر بی انتها غوښتنی نشی پوره کولای.

په اوسنی نړۍ کښی د انسانانو نژدې تماس او د دولتونو او ملتونو تر منځ گډی ښیگڼی دا ایجابوی چی په یوه ژبه ټول نړۍ وال آشنا شی.

د هغی ورځی څخه چی په دنیا کښی بیلی بیلی ژبی منځ ته راغلی دی، بشر تل پدې فکر ؤ چی د یوې بین المللی ژبی په اختراع کیدو سره د انسان د

یووالي او تفاهم د منځ ته راتلو په لار کښی گام کښیږدی، خو د بده مرغه تر اوسه ئی پدغه هکله کومه صحیحه لاره نه ده پیدا کړی او که کوم اقدام هم شوی دی مثبتی نتیجی ته نه دی رسیدلی.

څو زره کاله د مخه تر مسیح آثوریانو او بایلیانو په ټول منځنی ختیځ کښی آرامی ژبه د یوې عمومی او ارتباطی ژبی په

حیث وټاکله، دا هغه ژبه وه چی حضرت مسیح په هغه خبری وکړی او د پخوانی زمانې انجیل په هغه ژبه سره لیکل شوی ؤ او څو

پیړۍ تر استفادې لاندی وه او نن هم د منځنی ختیځ په سو وزره تنه په هغه ژبه خبری کوی، وروسته له هغه ژبی چی د عبری او یا نورو

پردیو ژبو سره گډه او د یونانی ژبو څخه مرکبه وه، د یونان څخه ایټالیا او له هغه ځای څخه هندوستان ته ورغله او د (ژول

سزار) تر زمانې پوری د روم په ټوله امپراتورۍ کښی عمومی سیاسی او تجارتی ژبه وه، د نوی عصر انجیل او د کلیسا ژبه په هغه

سره لیکل شویده، دغه ژبه د مقدونی فرهنگ د تجزیې نه وروسته د منځه ولاړه، او د روم د امپراتوری په وروستیو وختونو

کښی لاتینی ژبه خپل تسلط څرگند کړ او څه د پاسه زر کاله ئی د نیمی بین المللی ژبې په عنوان په

منځنیو پیړیو کښی په لویدیځو مځکو کښی رواج وموند، هر چا (نور په ۱۶ مخ کښی)

دلوب گلوته

مرحوم رحمت الله بابا :

دمعنی دارویدلو

دی آثر گټور

ښه غوږ نیونکی بوغیدونکی پر تکرار راولی
لکه بلبل چی دغنچی شوق په گفتار راولی
ډیری نکتی دی تردی لاندی بلټه ئی بسی
چه ښه اسرار دی پیژندل ته وار په وار راولی
یوه نکته ده درله ښه چی زده هنر لره سی
نسبت تردی چه څوك خروار مشك درته بار راولی
دمعنی دارویدلو دی اثر گټور
دارویدونکو زړه ؤ سرله ښه افکار راولی
محضی ئی لار دغوږ دخواده مدعاده زړه له
زړه له ئی ژبه و آواز دغوږ پرلار راولی
امر وی پاته معلق دتعلق د آمر
دزړه غوښتنه هر اندام پر خپل کرار راولی
اثر ئی گوره دالفاظو تاثیر داره آواز
روح لره قوت ؤ خوشحالی نورالانوار راولی
قدردانان نکته دانان سخن سنجان دغسی
وږغیدو ته بوغیدونکی پر بخار راولی
سپیره کودرکی کوچنیان ټولوی لوبولره
اصیل جوهر ته جوهری خپل خریدار راولی
پرتاوده زړه ژړ اثر کیږی درباب دآهنگ
هم دتودوالی په اثر مطرب پر کار راولی
دساړه زړه تښتن ئی دی په خوند ؤ خط ناخبر
چی ئی مطرب شهباز دځیرو بم پرتار راولی
صالح ناصح کوی ویل نه وائی چاته قبیح
قبیح ویل خو ئی وگړی په انکار راولی
دلربا ئی د دلبرانو دی هنر ؤ کمال
چی محبت لره بیده زړونه بیدار راولی
شمع چی بله شی هاله پټن دمینی تحریك
تر نام ؤ ننگ و تر سر تیر پخپل اختیار راولی
دبیلتانه حال خورا تریخ دی پیښ دی چاته نسی
تل ئی لیدل نه ولیمو ته انتظار راولی

د(رحمت الله) ویل مجمل دی تفصیل ئی غواړی دبل
ښه شارحان په اصلاح حل، واړه اشعار راولی

ښاغلی (رشاد) :

عمل ته باید پاڅو او دمینی

څراغ بل کړو

دردونه دځان ښائی چی په ځان سره درمل کړو
مشکل چی مووی مخی ته پخپل زیار سره ئی حل کړو
همت ته به لاس اوږد کړو دمیړنو خدای حامی دی
که غواړو چه زحمت مو په راحت سره بدل کړو
څوك زموږ دمینی مړنه دی چه راموشی چو پړ ته
راځی لستوڼی وغړو پر خدای به توکل کړو
ترڅو به دپردو په هیله ناست یو لاس ترزنه
یا گورو به چی کله بیده بخت دځان مل کړو
تش پوهه په درد نه خوری او نه کار پخوله پر مخ ځی
دزړه ټوکرانو پاڅی اچه لاس پوری په عمل کړو
هیڅ تاب و تب مو نشته په وجود کی ته وامړه یو
زړه ور پر عبث صرف دعزیز وخت طول امل کړو
لټی ته مو ځان وسپاره له زیاره مو لاس واخیست
څه ورانی چی راسی حواله ئی دازل کړو
ترڅو پوری به لاس نیسو و نورو ته په طمعه
دځان مینه دی ځان وخوری تردی حدی اذل کړو
بلا دجهالت او دغفلت ده را دو چاره
په سین دناکامی کی دخپل یاس موجونه تل کړو
رشتیا چه نه را گرزی هیڅ چپاو بی خپل څښتنه
اساس دژوندون ښایی پسله دی دغه متل کړو
بل ټپ دبیلتانه مو ورځ په ورځ پسی خو ئیږی
نورڅه پروالری موږ دپښو لویږو ځان به شل کړو
آخر ولی موږ داسی یو ضعیف جزو عنصر شوو ؟
چه هر چاته ورځرمه شو هغه په ځان کی حل کړو
فقط لکه مایع جسم ولوښی ته تابع یو
چه لاس را باندی تیر کړی هغو جز دخپل محفل کړو
خپل وژنو او دنورو په روزنه کی ماغزه خورو
وخپلو ته گنډ هیر یو دبل درد ته ځان صندل کړو
موږ ټوله دیوه پیزی اجزا یو بیلتون نشته
خبر په خپل وحدت نه یو چه دا درد و هو درد غل کړو

له خارجي ادب څخه:
د (ارمانجن) ژباړه:

لومړنۍ مینه

د نیمې شپې ترشینګې آسمان لاندې دسمندر پرغاړه دبیړۍ چلونکي نغمې وریدل.

په هسك کښې د لومړۍ ماښام دځلانده ستورې لیدل.

دنازکو پاڼو پرمخ باندې دشپې دپستو وږمو چلیدل.

دپسرلي په ټاپي کښې دسرې او زرغونې ننداره کول.

له محبت څخه ډکې سترګې چې په کور کښې زموږ و راستونیدو ته په انتظار کښې دي په یاد راوړل.

دبلبلې په آواز سره له خوبه راپاڅیدل.

د اوبو په شورهارې او زمزمو سره بیدیدل.

د بورواګانو ورو شانته اوازونه او دمرغانو سندرې او دکوچنیانو خبرې اوریدل د لویو او ګڼو ښارونو څخه د صحرا و خوشالي او سمسورې اورشوته تښتیدل.

د لومړنۍ زوی دزیږیدو څخه ږغیدل.

دافتخار نښه په قلم یا په توره لاس ته راوړل.

دشدیدې ګرمۍ په سخته تنده کښې دیخو اوبو درلودل.

ظالمان او سود خوران له ټولنې څخه ایستل.

دغه ټول شیونه زړه خوشالونکي او خوندور دي.

لیکن زموږ لومړنۍ مینه تردې ټولو زړه وړونکي او خوندوره ده.

د ن، «نیازي» ژباړه:

ادبیات:

د شاعر غرور

کله چې یأس او ناامیدي شاعرانو وحساسو زړونو ته پناه ورو ړي نو ژر په ژره دځوانۍ دمحبت او آرزوګانو پرځای دزمانې غمونه او مصیبتونه میشته شي او هغه نښې چې یو څه عمر په مستۍ او خروښ کښې تیرې شوې وي حتماً دژوند په سکوت او خاموشي کښې محوه شي.

غروب کله چې دلمر د آخرۍ ګړۍ سره په زښته خواشینۍ وداع کوي نو دردمن زړونه هم هغه هیلې او هوسونه چې یو عالم وخت ئې له ځانه سره لرله ژر په ژره هیروي ولې چې د آسمان ستورې دشاعرانو داندیښنو یوه نمونه ده چې دخپل همیشه توب دپاره دنیا ته بیرته راغلي دي.

که په ژوند پسې مرګ نه وي هرڅوك به دهستۍ په صحرا کښې هیښ او سرګردان پاته وای او دهمیشه توب، تریخوالي به د سړي حساسه روح مړاوي او زهیر کړي وای ولې چې زړتیا او نیستۍ سره له انکسار او عاجزیه کائناتو ته هم له ابدي ویرې او ډار څخه خلاصون ورکوي.



وایي ژوند جنګ ؤ جدال او مرګ دحیرانتیا دنیاده:

دوی ټولو دافسانو په عالم کښې دځانو دپاره ژوند غوره کړیدي نو همدا سیب دي چې د شاعرانو غرور د ژوند دفقر او زحمت سره په جنګ کښې دي.

دهغه شاعر دکورلیدلو دپاره چې په دنیا کښې بې د خپلو څو تیت ؤ پرك پاڼو اشعارو څخه بله قیمتي متاع نه لري بایددي چې د ژوند تظاهرات هیر کاندي ولې چې حساس زړونه بې د ژوند له حقایقو څخه نوره اندیښنه نه لري.

شاعر فقر او بیچاره ګي پخپل غرور سر جبرانوي.

مګر ته، سره له خپلې بې نیازي دخپلو ګناؤ څرنګه جبران کوي، آیا دا فکر نه درلویږي هغه وخت چې د مغرورو شاعرانو قهر پای ته ورسیږي په څومره تاو کښې به وي؟!

(د ۱۳مخ پاته)

د ژبی اختلاف...

کولای شو د اروپا دیوه گوټ څخه بل گوټ ته ولاړ شی او په هغه ژبه خبری وکړی، کتابونه، اداری او د پوهنتون لیکنی په همدغه ژبی کیدلی او ژباتو تعلیمیافته کسانو ددغی ژبی سره آشنائی درلوده او په کلی توگه ټولو

خلکو پخپلو ژبو لیکنی او خبری نشوای کولای: لاتین لاڅه کوي، لاتینی ژبه اوس مړه ژبه ده او یوازی د علمی او تیرمی نولوژی اصطلاحاتو په هکله استفاده ځنی کیدله.

دوي پیری دمخه فرانسوی ژبه د یوی ادبی او دیپلوماسی ژبی په عنوان پکار یدله او د لومړی بین المللی جگړي پوری ئې خپل ستر مقام وساتی او وروسته د فرانسی د دولت دنفوذ تر کمیدو وروسته

د بین المللی ژبی عنوان د انگلیسی په برخه شو او د دوهمی جگړي نه وروسته بیا تر اوسه پوری د ژباتر وهیواد دونو په منځ کښی تجارتی او دمکاتیبو ژبه ده، ژباتره علمی مجلی او ورځپاڼی پدغه ژبه لیکل کیږی، په الوتکو او نورو شیانو کښی ټولی مخابرې او داسی نور شیان په انگلیسی کیږی.

هر څوك چی په انگلیسی کښی مهارت ولری دنړی په ژباترو سیمو کښی به آسانی سره مسافرت کولای شی او په هیڅ ځای کښی له دغه پلوه هیڅ تکلیف نه وریږیږی.

که څه هم د بریتانیا عظمت دمخه تللی دی او د امریکی دمتحده ایالاتو نفوذ هم کمیږی او س دمخکی یو بر اتمه برخه خلك پدغه ژبه خبری کوی.

(باید وپوهیږو تر دغه شمیر دوه چنده ژبات خلك په یوه یا دوو چینی لهجو خبری کوی) اسرائیل په عبری ژبه پغیږی، خو انگلیسی او فرانسوی ئې اداری ژبه ده او سربیره پر مودنی ژبی هر څوك ئی په یوه خارجی ژبه لکه انگلیسی، فرانسوی، المانی او یا هسپانوی ژبه پوهیږی.

په ترکیه کښی کمال اتاترك په ۱۹۲۰ عیسوی کښی لاتینه الفبا د عربی الفبا پرځای وټاکله او د صرف ونحوی مشکل قواعد ئې د ترکی ژبی څخه دمنځه یووړه، گواکی د یوه صحیح تعلیماتی سیستم دنشته والی له کبله او س هم په ترکیه کښی بیلی بیلی لهجې شته، خو د اخر گنده ده چی د یوه هیواد په سویه کښی د ژبی د یووالی منځ ته راتگ چندان سخت کار نه دی خو دا ولی په جهانی سویه دغه کار تر اوسه پوری غیر ممکن پاته شوی دی.

البته دا ممکنه نه ده چی یو هیواد خپله ژبه بریږدی او بله ژبه دهغی پرځای وټاکی، دا کار دهغه هیواد ملی موجودیت، تاریخی، ادبی او لرغونو روایاتو ته زیان رسوی، پدغه هکله یوازنی د حل لاره داده چی

دنړی په ټولو پوهنځیو کښی سربیره پر مودنی ژبی یوه بله ژبه هم په اجباری توگه تدریس شی، هر کله چی نړی وال دغه دوهمه ژبه زده کړه یقین دی چی

یو تر بله سره نژدې کیږی او په تفاهم ئې په منځ کښی راځی او دهغه له کبله جگړي او اختلافونه لیری کیږی.

افلاطون څوك ؤ؟

افلاطون (اریستو کل) یونانی فیلسوف په (۴۲۷-۴۳۸) قمری کال کښی د سرشناسه مور او پلار څخه چی د اشرافو د طبقې څخه وه د آتن په ښار کښی دنیا ته راغی.

په شل کلنی کښی ئې د سقراط مکتب ته لار پیدا کړه، او دغه سره یوځای شو.

په څلویښت کلنی کښی افلاطون د فلسفی د مکتب بنیاد په آتن کی کښیښود، او د فلسفی آثارو په لیکلو ئې شروع وکړه، دده دمشهورو کتابونو څخه کولای شو چی (جمهوری) او (ضیافت) یاد کړو.

افلاطون ته د «فلسفی مکتب» پلار هم ویلای شو.

د رحمت الله «مړوند» ژباړه:

د خارجي مطبوعاتو څخه:

د تیاتر لنډه تاریخچه

تیاتر د نن ورځې په معنی هغه ځای ته ویل کیږي چې هلته خلک د یوې ښوونې د لیدلو لپاره راغونډ شوي وي.

یونانیان لومړنی ملت دی چې د تیاتر د بنسټ ډبره ئې ایښې ده او هغه ته به ئې «اوري توریوم» وایه تیاتر د ډیرې زمانې راهیسې په یونان کښې موجود ؤ او ځینې آثار ئې اوس هم په موزیمونو کښې سته او هم د پخوانی یونان د تیاتر خرابې په آتن کښې لیدل شوي دي ټوله دا حقیقت څرګندوي چې (۶۰۰) کاله ترمیلاد دمخه په یونان کښې تیاتر موجود ؤ.

یونانیانو تیاتر د مذهبي مراسمو جر باله او د هغه یوه برخه به د رب النوع عبادت ؤ د مختلفو رب النوعو د ورځې د تجلیل په مراسمو کښې به ننداري کیدلی چې تر ټولو مهم رب النوع ئې (دیونی نیزوس) د شرابو رب النوع ؤ چې په کال کښې به د یوه ځل لپاره دغه ورځ نمانځل کیده. معلومه ده (دیونی نیزوس) د شرابو کاشف ؤ د دوی په عقیده همدغه خبره وه چې شراب خلکو ته نشاط او خوښي بخښي.

ورو ورو (دیونی نیزوس) د شرابو جشن عمومیت وموند او په همدې ترتیب د نورو رب النوعو لپاره هم همدغه ډول جشنونه نیول کیدل.

یونانیانو د تیاتر پر ځای د (تراژدي) کلمه استعمالوله او بل دا چې د تیاتر د ننداره لپاره ئې د وزي نغمه غوره کړې وه البته دا نغمه چې ځکه غوره کړې وه چې وزه د شرابو د رب النوع مقدس حیوان ؤ او د آتن حاکم اعلان وکړ هر چا چې یو ښه ډرام ولیکي یوه وزه او څه نغدي پیسې جایزه ورکول کیږي.

د تیاتر ځای په یونان کښې یوه ودانی وه چې دروازه ئې نه درلوده په دې معنی چې مخ ئې بلکل ایله ؤ سر ئې نه ؤ پوښلی ننداره چیان به د صالون په شمالي خوا کښې چې د ري پوړیز ؤ کښینستل چې البته په هر پوړ کښې ئې مخصوصي چوکي ایښودل شوي وي او په منځنی برخه کښې ئې هنرمندان وه او خپل نمایشونه ښودل چې دغه ځای ته به بیا په یونانی اصطلاح (ارکسترا) ویل کیدی او همدغه (ارکستراسیون) لغت ورو ورو د موسیقي سره اړیکي پیدا کړ.

د تیاتر جنوبي پلو ته یو مجلل تعمیر چې درلونکی د ډیرو ښکلو چوکیو او غرفو ؤ دا ځای بیا مخصوص د امپراطورانو، حاکمانو، خارجیانو، سفیرانو او میلمنو د پاره ؤ.

ترمیلاد دمخه په (۵۳۴) کښې (فری نیکوس) یونانی ډرامه لیکونکی په تیاتر کښې تحول راوستی هغه دا چې د پاچهانو او ځینو نورو مشهورو خلکو د تیرسوي ژوند تاریخ به ئې په تیاتر کښې په عملي ډول ښکاره کاوه چې په همدې ډول په تیاتر کښې لومړنی ډراماتیک تحول منځ ته راغی

ترمیلاد دمخه په (۴۷۶) کښې د فنیقي ښځو په نامه یو نمایش وښودل شو چې ټول خلک ئې حیران کړل او ورو ئې ښودل چې د تیاتر یوا ځی مذهبي او نمایشي خوا جالبه نه ده بلکه ځینې تاریخي داستانونه خواږه سرګذشتونه او داسې نور شیان هم په تیاتر کښې ښودل کیږي.

د تیاتر اصلي او حقیقي مخترع (آشیلوس) شاعر ؤ چې ارسطو د ده په باب وائي:

«ده د تیاتر د لوبغاړو شمیر د یوه څخه د روته ورساوه او زیات کارکوونکی ئې ځینې وایستل پاته لوبغاړو ته ئې په زړه پوري لارښوونې وکړي» پسله ده (سوفوکل) د لوبغاړو شمیر د روته ورساوه چې د لومړي پلا د پاره ئې ټولي صحنې خپله ترتیب کړي همدغه رنګه (سوفوکل) ځینې نور تغیرات هم په صحنه او نمایشاتو کښې راوستل او د خلکو د ژوند ډراماتیک داستانونه ئې په خپلو نمایشاتو کښې داخل او هم د ننداره کوونکو د ډیروالي او د هغو د جلبولو د پاره ئې موسیقي هم د تیاتر سر مل کړه هغه ؤ چې د (سیلو آشنیوس او سوفوکل) لومړنی تحولونه پای ته ورسیدل او روڼ (اوري پید) ته

ورسیدی ده د (باکانت) په نامه مشهوره ډرامه چی د (اوری پیدو) اثر ؤ او هم ئی د (سوفو کل) ډرامونه لکه (اوریب) او (الکترا) چی دهغه وخت دمهمو شهکارو

دډلی څخه ؤ او دهغه وخت دخلکو زیاته توجه ئی جلب کړی او تراوسه ئی هم خپل اعتبار ساتلی دی .

دپخوانی یونان تیاتر په

لومړیو وختو کی یو اځی دنطاقی شکل درلود لوبغاړی به آرام ولاړ بیله حرکت ئی په خوله دډرامی حادثی لوستلی هر لوبغاړی به د خپلی وظیفی په اساس خپل ځان هماغه

رنګه جوړ کړی ؤ چی په همدی ترتیب به لیدونکی دلوبغاړو د ظاهری حالت څخه پوهیدل چی کم لوبغاړی دچارول لوبوی چی البته ددی پوهیدو لپاره به لیدو

نکی مجبوره وه مدمخه تر دی چی تیاتر ته ولاړسی یو لړ معلومات به ئی دتیاتر او دتیاتر دلوبغاړو په باب لاس ته راوستل مثلا هغه دا چی دسر دور یښتانو چنګ چنګ

والی به دد لاوری او سخاوت سمبول ؤ اتور وریښتان به دغم او طلائی وریښتان به دشیطانت نښی وی دګیس خرما ئی خولی به دښایست نښه پاش پاش وریښتان

به دپستی او خطا ایستونکی ښځی او اودلی وریښتان به دمینو ښځی سمبولونه وه .

دیونان دخلکو دتیاتر سره دومره مینه او علاقه وه چی کله کله به یوه ننداره دری ورځی پرله پسی ښکاره کیده دیونان

تیاترونو د ۱۷ زروتنو لیدونکو دپاره ځای درلود دلوبغاړو اهمیت او عزت د (فلیپ او اسکندر) په وخت کی زیات سو .

داسکندر په وخت کی دیونان په هر ښار کی یو یو تیاتر جوړ شو دمیلاد دمخه په څلورو پیړیو کی په آتن کی یو اځی

(۲۸) لوبغاړی موجود وه چی دالوبغاړی به په ټولو علومو پوهیده په هغه وخت کی لوبغاړو دلومړی ځل لپاره په جهان

کی اتحادیه جوړه کړه چی نن ورځ د (سندیکا) په نامه مشهوره ده د (سندیکا) نوم د (خدام سوز انجمن) پر کښیښود .

ورورو موسیقی او نڅاهم دتیاتر سره ملګری او دهری ننداری شروع به د (شیپور) په وسیله اعلانیده او همدغه رنګه به دیوه عاشقانه ننداری یا

(لیریک) دښکاره کیدو په وخت کښی به آرام آهنګ لرونکی موسیقی چی د چنګ آواز به هم ورسره مل ؤ ږغول کیده .

دیونان پخوانی تیاترونه په همدی ډول روان وه او مخ ته تله خو ډیر اروپائی هیوا ونه ئی تر خپل تأثیر لاندی راوستل .

تیاتر داروپائیانو په ځینو ښارو کښی دلسمی پیړی تر پایه خصوصی شکل درلود لوبغاړو به ئی مخصوص ځای درلود پاچاهانو او حکومتی مشرانو به لوبغاړی ټاکل او پسله لسمی او یوولسمی

پیړی څخه تیاتر ددغه انحصاری شکل څخه واوښت او مذهبی شکل ئی ځانته غوره کړ .

دموسیقی استادانو دا راتوریو مس، سیوم، ورکویم، مسیح او حواریون تابلوګانی جوړی او تیاترونو ته ئی دکومک په ډول ورکړی .

دغه حالت درام درلود څو چی درنسانس دوره راورسیده پدی وخت کښی تیاتر په آسیائی او اروپائی هیوارو کښی رواج وموند .

په آسیا کښی (کالیداسا) او په اروپا کښی مارلو، شکسپیر مولیر او په (۱۸) پیړی کښی (باګوته) او (شیللر) دمستعدو لوبغاړو په نامه وپیژندل شول .

دفریدی (س) ژباړه :

کلاسیک ادبیات

کلاسیک ادبیات هغه ادبیات دی چی پر عقل، منطق او استدلال موافق وی چی تخیل په هغه کی دتل لپاره پکښی محدود او که منظم او مرتب

وی کلاسیک ادبیات معتدل او میانه روده چه په دقت او ډیره موشګافی ترتیب شوی وی د کلاسیک ادبیاتو ژبه محکمه ساده او روانه وی .

د کلاسیزم اصطلاح په نورو هنری رشتو کښی لکه موسیقی نقاشی مجسمه سازی هم معموله ده دپخوانی یونانی لیکونکو آثار او دفرانسی د ۱۷ قرن لیکوال

لکه لافون مولیر پاسکال، راسین کرنی بوالو آثار کلاسیک دی .

په ۱۹ میلادی قرن کښی یوه لیکوال تر رومانتیک لاندی راغونډ شول چی دهغو لیکوالو چی د ۱۷

قرن ډله دادبیاتو پیروی او دفاع ئی کول په مخالفت کښی ودریږی ددی ډلی او سبک لوی پهلوانان شاتوبریان او مادی دوستال دی .

د کندهار د مشایخو پېژندنه:

غلام فاروق «انورزی»:

میر بابا (رح)

میر بابا د صالح محمد زوی د محمد صادق نمسی او د عبدالطیف کړوسی دی په خټه ایوبزی، پوپلزی او په ۱۱۷۲ قمری کال کښی د نیش د علاقې د کټه خنجك په کلی کښی زیږیدلی دی.

که څه هم دده د ټبر کسب بزګری او مالداری وه خو د دوی کورنۍ پخپل ټبر کښی صاحبزاده خیل دی کله چی د میر عمر ۷ کلنی ته ورسید نو د دینی علومو په زده کړه ئی پیل وکړ او ۱۳ کاله ئی پر له پسې د دینی علومو په زده کړه او تحصیل کښی شپه ؤ ورځ زیار او زحمتونه وګالل تر څو چی په شل کلنی ئی زیاتره دینی علوم لکه: صرف، نحو، معانی، فقهه، حدیث شریف، تفسیر شریف او داسی نور د خپل وخت دینی عالمانو څخه زده کړل او د نورو لوړو دینی علومو او کتابونو په مطالعه بوخت شو. کله چی د میر سن ۲۱ کالو ته ورسید نو دده په څېره کښی د نیکی، زهد او تقوا نښی څرګند شوی، تر څو چی د عمر په ۲۲ کلنی کښی خدائی مینی پر ده غلبه وکړه او پدغه وخت کښی ئی زیاتره وختونه د خپل کور په خوا نژدې غره کښی تیروله او بیله دینی علومو د مطالعه نه ئی بل کار نه کاوه، ورځی به ئی پخپله حجره او شپی به ئی په غره کښی د لوی خدای (ج) په عبادت کښی تیرولی.

که څه هم میر ګوښه نشینی غوره کړی وه خو د شریعت څخه ئی مخالفت نه کاوه او اجتماع ئی هم نه ایله کوله.

څرنګه چی دده د خپلوانو کسب بزګری او مالداری وه لاکن میر د خپل ژوند احتیاجات د هیچا پر اوږه نه اچول او نه ئی د خپلوانو لاس ته تمه درلوده بلکی د فراغت په وخت کښی به ئی د نژدې غرو په لمنو او دښتو کښی ځینی نباتات چی په طبابت کښی د هغو څخه کار اخیستل کیده لکه زیره، شکمپاره، خاکشیر ګنچه، او نور دغه ډول طبی بوټی به ئی ټولول او د دغه درکه به ئی د خپل ژوند اړتیاوی پوره کولی.

میر بابا ۱۵ کاله د سعودی عربستان په لوری د بیت الله شریف د حج او د نورو متبرکو ځایونو د زیارت کولو د پاره سفرونه کړیدی، چی افغانی حاجیانو به هر کال میر بابا د حج د ادا کولو په وخت کښی په مکه معظمه کښی لیدی.

میر بابا به د مکی معظمی د زیارت کولو نه وروسته څو مده په مدینه منوره کښی هم تیروله او بیا به خپل هیواد او سیمی ته راستنیدی.

د میر بابا خپلوانو او دوستانو آرزو درلوده چی دده د پاره کوزده وکړی خو میر بابا د دوی دغه غوښتنه د عمر تر آخره پوری ونه منله.

کله چی د میر بابا سن ۴۰ کالو ته ورسید جذبی غلبه پر وکړه او مجذوب شو او زیاتره وختونه ئی په غره کښی تیروله، په میاشت کښی به ئی لس ورځی په روژه او فاقه تیرولی.

کله چی د میر بابا عمر ۷۰ کلونو ته ورسیده نو په نژدې اولیری شاوخوا سیمو کښی د میر بابا د فیض او روحانیت انګازې خپرې شوې او د ګرآن هیواد د نژدې اولیری سیمو څخه هغه کسانو چی میر بابا ته ئی اخلاص او عقیدت درلود د لیدلو او صحبت د پاره ځانونه را رسول.

د وخت او عصر لویو کسانو د میر بابا د لیدلو او مصاحبت آرزو درلوده او د میر بابا د روحانی مقام نه ئی په درنښت یادونه کوله.

میر بابا د عمر په ۸۵ کلنی کښی د غره نه راکښته شو چی هیڅوك د هغه د حقیقی حال نه خبر نه شو.

په پای کښی د خپل آبائی مسکن نه ئی د خوا سیدی د دښت په لور چی د باریکی د کاریز شمالی پلو د نیش د علاقی په منځ کښی واقع دی حرکت وکړ او هلته ئی استوګنه غوره کړه پدغه وخت کښی د میر بابا د روحانیت او بزرګی شهرت هری خوا ته خپور شو

او د هیواد د هری کوښی نه حاجت لرونکی دده حضور ته راتله او د خلکو دغه تګ او راتګ د اخترونو په وخت کښی.

زیات ؤ او په کوچنی اولوی اخترو کښی به دده د ټاټوبی په شاوخوا کښی په سوو او زرو کسان راغونډیدله، د اخترو د میلو د خوښی ورځی به ئی بدغه ځای کښی تیرولی آن تردې چی دمیربابا د وفات نه وروسته هم تر اوسه پوری دنیش د علاقی او نژدې شاوخوا سیمو زیاتره کسان چی میربابا ته اخلاص لری د کوچنی اولوی اخترو میلی دده، دزیارت په څنګ کښی کوی.

میربابا دخپل عمر تر آخره پوری په دنیائی کارو لاس ونه واهه او ټول عمر ئې د خدای تعالی په عبادت تیر کړ، تر څو چی د په ۹۵ کلنی کښی وفات شو، او د باریکی کاریز په جنوبی خوا کښی د یوې غونډۍ په سر کښی خاورو ته وسپارل شو.

څرنګه چی دده د ښخیدلو ځای دښت او د وطن د کاریزو د اوبو نه لوړ ځای ؤ نو وروسته بیا د بادیانته او خیرغوښتونکو کسانو په همت د دره نور د سیمی نه چی دمیربابا د مزار په جنوبی خوا کښی واقع ده.

دمیربابا دمقبرې د آبادولو او د زیارت په شاوخوا کښی ئې د نهالګیو دایښوولو دپاره د دره نور څخه داوبو راوستلو دپاره ویاله وکیندله شوه او د میربابا د مقبرې او مزار برشاوخوا باندی د توتانو ډیر نهالګی کښینول شویدی او د دغه نهالګیو لوئیدلو تر وخته پوری ئی د دره نور د سیمی څخه او به راوستلی.

دمیربابا پرمزار د توتانو دونو لویه تکیه شته چی دمیوې څخه ئې خاص وعام استفاده کوی او تر سیوری لاندی ئې مسافران او نور خپلی ستړیا لیری او استراحت کوی.

په وروستیو وختو کښی د میربابا پر مقبره باندی دخټو او اومو خښتو څخه یوه مربع ډوله مناره جوړه شویده چی ۲۰ متره لوړوالی لری او د هغی پرسر باندی د میربابا د مزار جنډۍ دلیری ځای څخه ښکاره کیږی.

د «شیللر» اثر :

د «ریدی» ژباړه :

چوپتیا

امیدونه وهغه سراب ته ورته ده چی چی موږ خپل ځان ته ورکشوی.

دا سراب ویره پاڅونکی، اما ډیر خوږ او زړه خوشالونکی دی.

زه ستا بی لیدو څخه بل ارمان نلرم او غواړم چی هر ګړی می دزړه اوربلی لمبی وکړی نو ځکه له دې امله زه ستا بیلتون پر وصال خوښوم.

زما اوښکی او اوسیلونه زړه ویلونکی دی اما غواړمه چی دا اوښکی بیله زما دلمنی څخه بل ځای نوی نسی.



کله چی ستا دمخ په اندیښنو کښی زما د عمر شیبې تیریږی نړۍ وماته لوئیږی.

زما غم او خوشالی دومره سره نژدې شوی او یو له بله ئې خوی سره نیولی دی چی بیلنه ئې خورا سخت کار دی.

زما د زړه ټوټې! غمونه چی ستا په یاد، پرما باندی تیریږی تر هری خوشالی ماته ښه او زړه ته راتیردی ما ډیر ځله د زمانې له غمونو څخه ژړلی دی.



زما دزړه میری! وایی چی تردې نړۍ و آخواته بل جهان هم شته.

هغه جهان چی ډک له عشق، خوشالی مینی او محبت څخه دی.

زه دا اوس په همهغسی جهان کښی خپل عمر تیروم؛

ځکه چی ستا محبت په زړه کښی پالم او ستا پرښایسته مخ مین یم.

زما مینی! د ابدیت څخه انکار د خپل وجود او هستی څخه نټه کول دی فنا هوښیار سړی لره کومه معنی نلری.

زه غواړم چی ستا په عشق کښی تر ابده خوشاله و اوسیږم؛

ځکه ته زما خوار دارمانونو او آرزوګانو قبله ئې.

دخبرو لمن راټولوم او بیاهم لکه دپخوا په شانی دخپل زړه په کور ننوزم، تر څو ستا سره د زړه خواله وکړم؛ خوله نیسم او چوپیږم:

د فضا او خوراکي شيانو عصر

د فضا په عصر کي زموږ بدن

زياتو خوراکي شيانو ته اړتيا لري - عصري ژوند زموږ په بدن کي د ويټامينونو وژونکي دي

په دغه عصر کي چه موږ ژوند کوو د هغو علتونو له کبله چه د لته به لاندي راوړل شي نسبت پخوا ته زياتو مهمو حياتي منابعو ته اړتيا لري.

د هډوکو د نرموالي ناجوړي د (راشيتتسم) د طبابت د علم د پرمختللو باوجود او هم د پنځو تيرو شويو کلو په څير په وړوکو کي ليدل کيږي.

لمر د ويټامين (ډ) د توليد مهم منبع دي، که څه هم په دوبي کي لمر زيات دي خو په نورو موسمو کي لمر کم ليدل کيږي نو په هغو سيمو کي چه لمر په اوريځو وښل شوي وي نو هلته د هډوکو نرموالي ناجوړي ډيره ده.

سربيره پر دي څوک چه په هغسي کورونو او ځايونو کي ژوند کوي په زياترو وختونو کي لمر نه لري بايد وپوهيږي چه دښارونو کثيفه هوا د ماوارۍ بنفش وړانګي مانع ګرزي او دښارونو وسيدونکي د هغه د ګټي څخه هم محروم کيږي.

تر ټولو مهمه داده څوک چه يو دا راز جامه اغوندي چه ټول بدن ئي ورپټ کړي وي او د وړانګي ئي بدن ته ونه رسيږي درو غتيا له حيثه تاوان کوي.

بايد دغه حقيقت له نظره ورې نه کړو چه د خانيات او الکل ويټامين (ب) او سيګار ويټامين (ث) په وينه کي کموي دغه رنګه د (ب) ويټامينونه په تيره بيا ويټامين (ب يو) ته زيان رسوي.

نو څوک چي په د خانياتو اخته وي بايد ارومرو دغه لاندي ويټامينونه استعمال کړي او مهمه خبره داده بايد د خپلي روغتيا د ساتني له کبله د الکلي مشروباتو او د خانياتو له استعمال څخه ډډه وکړي.

اوس دغه حقيقت څرګند او په اثبات رسيدلي دي چه بدن الکل خوښ نه لري نو د هغه سره مبارزه کوي د دغه کار د پاره ويټامين (ب) په تيره بيا ويټامين (ب يو) زيات مصرفوي څو چه د هغه زهريت له ځان څخه ليري کړي او له دغه کبله څوک چه زيات الکل استعمالوي د دغه ويټامين د کمبود له کبله ډير عصبي وي.

بوبل مهم ټکي دادي، لوړ ږغونه، ناراحتي او ورځني عصبانيت او ستړيا ده چه د بدن ويټامين د منځه وړي او نن دا هم ثابته شوي ده چه روحي او بدني ستړيا وي چه اغلباً موږ په اخته يو بدن ته د ضروري ويټامينونو په تيره بيا د (ب) د ويټامينو د کمبود له کبله دي.

آيا پوهيږي چه دا ولي؟

د دي د پاره چه د بدن ټول غړي او دستګاه د هورمونونو او انزيمونو په واسطه چه د ويټامينونو سره په مستقيم او غير مستقيم ډول همکاري کوي زيار باسي چه د دغو خارجي عواملو سره مبارزه وکړي د بدن ويټامينونه کميږي نو ځکه ډاکتران تل عصبي ناروغانو ته د ويټامينونو په تيره بيا د (ب) ويټامينونو د خوړلو توصيه کوي، پرته له دي چه مسکن د رمل ورته ورکړي.

پنسيلين او سولفاميدونه هم د بدن ويټامينونه د منځه وړي او کموي ئي د ډير ضرورت په وخت کي د هغو استعمال له کبله بايد زيات ويټامين (ب) استعمال شي دا ځکه پورتني دواوي که څه هم په بدن کي ضرر ناک ميکروبونه وژني او د بدن ګټور ميکروبونه په تيره بيا په کولمو کي زيات ميکروبونه چه بدن ته ويټامينونه توليدوي هم د منځه وړي او دغه رنګه په کولمو کي د لازمو ويټامينونو د جذبيدو مانع ګرزي نو په هره جزئي ناروغي لکه ګريپ او نورو کي بايد دا ډول د رمل بيخي استعمال نه شي.

خوب راوستونکي او مسکن

دواګانی دبدن ویټامینو ته زیان رسوی او دا ډول دواګانی هم باید تل د(ب) دویټامینو نو سره په کار ولو یږي کنه نو دا ډول دواګانی ناوړه نتیجه ورکوي.

دا ځکه چه په خپله د(ب) ویټامین دخوب راوستو نکی او مسکن دی اعصابو او مغز و ته ګټه رسوی، نو باید لاندی لار ښوونی په نظر کی ونیسی او خپل پام ورته واړوی:

پرته دډاکتر له مشوری څخه هیڅ ډول دوا مه خوری.

که څه هم ویټامینو نه وی دا ځکه دد وا زیات خوړل زیان لری چه دبدن انډول خرابوی دا ځکه څوک چه یو ډول ویټامین زیات وخوری نورو ویټامینونو ته زیان رسیږی، مثلا د ویټامین (ب) زیات استعمال (پ پ) ویټامین ته زیان پیښوی او یا د (آ) دویټامین زیاتوالی د (ت) زیات ویټامین له منځه وړی.

۱- نوښه به داوی چه ویټامین لرونکی دواګانی په متعادل ډول وخوړل شی چه په بدن کی توازن وساتل شی.

۲- ترڅو چه کولای شی هغه سابه او میوی چه بیل بیل ویټامینو نه په متعادل ډول پکښی وی استعمال کړی دا کار دطبابت ترویټامینونو ډیره ګټه لری

۳- دلمر او آزادی هوا څخه ګټه واخلی او پلی تګ هم بدن ته ډیره ګټور دی.

٤- باید ستاسو خواړه متنوع وی او ټول لازم خوراکی شیان لکه شحمیات، البومین او سالادو لری. (د کندهار مجله)

دریډرز ډایجست څخه: دانډیوال ژباړه:

دتلویزیون پاڼه څه ډول دزده کوونکو سره په تدریسی چارو کی مرسته کوی؟

په هغه وخت کښی چی دتیر شوی تدریسی کال په سر کښی په سکا تلنډ کښی دګلاسکو ښوونځی خلاصیدل، دفرهنګی چارو آمرینو ولیدل چی څه دپاسه سل تنه ښوونکی ئی کمبود دی که څه هم لس زره پونډه ئی په بانک کښی ذخیره درلودل بیا ئی هم نشو کولای چی دغه خلاډ که کړی، نو ئې فکر وکړ چی ددغو ذخیره شویو پونډو څخه په دغه هکله دبلی لاری څخه کار واخلی، یوه داسی لار چی د تدریس مشکلات له منځه یوسی او دښوونکی د کمبود نیمګړتیا لیری کړی.

دتلویزیون په کار اچول د تدریس دپاره دحل یوه مناسبه لاروه چی وئی وموندل، دتلویزیون د لیږونکی ستګاه د نصبولو دپاره ئی د بریښنا دتراموای دسټیشن اوزړی ودانی څخه کار واخست او هغه ئی دلیږونکی مرکز په حیث تبدیل کړ او ۳۵۰ ښوونځیو دپاره ئی دتلویزیونی خپرونو څخه د ګټی اخستو زمینه برابره کړه او په ۱۹۶۵ کال کښی په انګلستان کښی د درسونو د خپرولو لومړی لیږونکی مرکز پرانستل شو او ددغه مرکز څخه لومړی دښوونکو د کمبود پوره کولو او بیا دښوونځیو دفرهنګی او تدریسی پروګرامونو دپاره کار واخستل شو.

د تلویزیون پروګرام ددرسی ټولګیو کار پرمخ بوتلی او ددغو تعلیماتو د رئیس په قول دمانچستر دپوهنتون پروګرام دپاره تلویزیون یوه ستره ذخیره ده او ښوونکی کولای شی دهغو څخه په تدریسی چارو کی ګټه واخلی.

په پوهنتون کښی دتلویزیون دځیړنی د مرکز رئیس په دې فکر دی چی تلویزیون دټولګی ددرس دتدریس د اغیزه ناکه محرک په حیث ی او دهغه په واسطه مشکلی نظریی په پوره وضاحت سره زده کوونکی ته ښوول کیږی.

په ګلاسکو کښی چی دتلویزیون دمرکز له پرانستلو څخه شپږ کاله تیریږی په هغه کی د لیدلو وړ انکشاف راغلی او دتاریخ جغرافیی، تجارت او دینی تعلیماتو په جمله کښی دنورو تدریسی موضوع ګانو په ګډون په دغو تدریسی مرکزونو کښی کار اخستل کیږی او دیوبل کیبل په واسطه چی د (جور دن هیل) لیسه ددغه مرکز سره نښلوی ددرسی ټولګیو دپاره ئی نوی فرهنګی پروګرامونه ترتیب کړی او زده کوونکی دهغو څخه کار اخلی.

د کلاسکو د تلویزیون دستگاه هغه بریالیتوب چی لاس ته ئې راوړی دی لندن ته ئی هم د خپرونو سلسله اوږده شوه او د انگلستان د فرهنگی مؤسسو مرکز هغه په ښوونځیو د تدریس د پاره په کار واچاوه او نن دغه مرکز د انگلستان له لویو فرهنگی مرکزونو څخه شمیرل کیږی او د هغه هیوادنیم ملیون وړوکی په زرونو ښوونځیو کښی د دغو تلویزیونی پروگرامونو څخه گټه اخلی او بیل بیل موضوعات لکه لیک، ډرام لیکل، کیمیا، دروغتیا چاری، تجارت، تاریخ او جغرافیه زده کوی او د (هال) او (پلیموت) په وړوکو ښارونو کښی هم د تدریس له دغی نوی طریقی څخه استفاده کوی.

که څه هم د تلویزیونی تعلیماتو مرکزیوه نوی فرهنگی پدیده ده د انگلستان د بی بی سی خپرونکی دستگاه په تیرو څوارلسو کلونو کښی چی د فرهنگی تلویزیون د شروع څخه تیرشوی دی پراخ پروگرامونه تر اجرا لاندی نیولی دی او د دغو پروگرامونو د هم آهنگ کولو له کبله د موضاعاتو د تکرارولو مخ نیوی شوی او زیاته استفاده ځنی شوې ده.

یو له هغو گټورو پروگرامونو څخه چی تیرکال د تلویزیون د فرهنگی او تدریسی مرکز څخه خپاره شوی دی د ابداعی تکنالوژی پر له پسی پروگرامونه وه چی په ټول لندن کښی خپاره شول او حتی کارگر هلکانو په خپلو کارگاؤ کښی گټه ځنی واخستله، د غه پروگرام (ران گلد نیک) اجرا کاوه.

لومړی ئې د آس د نعل په شکل پوفلز ښکاره کړ چی د هغه پر شاوخوا ئی نازک سیمونه مښلولی وه، هغه ئی د یوی بیټری سره تړلی او مقناطیسی کړی ئی ؤ او په هغه سره ئی وړی فلزی ټوټی راغونډ ولی او د بیټری څخه ترجلا کیدو وروسته هغه کوچنی فلزی ټوټی پر مځکه پاشل کیدی دغه ساده تجربی وړوکو ته مقناطیسی طریقه ورښودله.

وروسته گلد نیک د دغی تجربی د استعمال په باب د فرهنگی پروگرام ننداره کوونکو ته توضیحات ورکړل او د دې لپاره چی د هغو د تفکر د قوی سره مرسته وکړی دغه مقناطیسی کړی ئی د یوه جرثقیل سره ومښلوله او څرگنده شوه چی د دغه مقناطیسی خاصیت له کبله د مځکی څخه درانه شیان لوړولای شی.

دغه رنگه ئی د تیلفون د داخلی دستگاه کارکول چی د دغه اصل سره سم دی د مثال په ډول یاد کړ او دغه وړه تجربه د هغه چا لپاره چی له تلویزیون څخه ئی لیدله ډیره دلچسپه وه.

دا ډول تدریسی پروگرامونه کولای شی د زده کوونکو د علمی او فنی استعداد د روزلو په لار کی ډیره مرسته ورسوی او هغوی په ذهنی او فکری لحاظ پرمخ بوزی او هغه متخصص ښوونکی دا ډول تهیه کوی چی د شاگردانو لپاره د استفادی وړوی.

د تلویزیون لیږونکو دستگاؤ د تلویزیون درسی پروگرامونه په پوره خبرتیا او ښه توگه خپاره کړل، او په هغو کښی ټولی علمی طریقی او تجربی چی د شاگردانو د پاره گټوری دی ښودل کیږی.

د دې لپاره چی د دغو پروگرامونو اغیزه د زده کوونکو په دماغونو کښی په دقت سره اندازه شی د دغو پروگرامونو تهیه کوونکی چی درسی ټولگیو کښی د تلویزیون په واسطه گډون کوی او د هغو اغیزه سنجوی.

باید دغه ټکی ته خپله پاملرنه واړوو چی د دغه ډول پروگرامونو تهیه کوونکو په هیڅ توگه دا ادعا نه کوی چی کولای شی د ښوونکو ځای ونیسی او هغوی ټینگار کوی چی د هغو کار د ښوونکو سره د تدریس په لار کښی مرسته ده او په حقیقت کښی د تلویزیون تدریسی طریقه د درسونو په پر مخبیولو کښی یو ښه لار ده.

یو فرانسوی ښوونکی ویلی دی چی دی په فرانسه کښی د تلویزیون د تدریس له طریقی څخه پوره رضایت لری، دا ځکه د هغو تلفظ ته په ډیر غور سره غوږ نیسم او لازم اصلاح پکښی کوم، په دغه طریقه کښی ښوونکی د معلمی د کار د طرز سره آشنائی پیدا کوې او د دغه فن مخصوصو ټکو ته متوجه کیږی او زه په خپله د تلویزیون د تدریس څخه ډیر خوند اخلم او د هغو په لیدلو سره پوهیږم چی زما د تدریس په هکله څه نیمگړتیاوی شته او د هغه په لیری کولو کښی زیار باسم.

د انگلستان د (لانکاشیر) د سیمی د تاریخ ښوونکی معتقد دی چی تلویزیون ماته راښودلی دی چی څه ډول د هری موضوع د تدریس لپاره پوره چمتوالی ولرم او د درس کلی طرح تهیه کړم او په نتیجه کښی په ډیر مؤثره او بهتره توگه شاگردانو ته درس ورکړم او هم له دغی

(نور په ۲۵ مخ کښی)

لاری څخه زده کونکی درسونه ښه زده کوی او صحیح تلفظ کولای شی او سر بیره پردی د لوړ مختصصینو او تکړه استادانو څخه د ادبیاتو

هنر موسیقی او درام په هکله ډیر ګټور او بهترین معلومات لاس ته ورسولای شی .

که تلویزون په دغه برخه کی په کارنه وای لویدلی ، د هنر

موسیقی او ادبیاتو د لویو کسانو لاس ته راوستل په تیره بیا د ښوونځیو د شاګردانو د پاره اسانه کارنه ؤ چه هغوی دعوت کړی چه د یوه ټولګی د پاره لکچرور کړی په

داسی حال کی چه د تلویزیون په واسطه د زرو ګونو شاګردانو د پاره ګټور او بهترین اطلاعات د هغو په اختیار کی ږدی سر بیره پردی تعلیماتی او فرهنګی تلویزیون

د لوړی بیی تجربی وسایل او بی مثله او په زړه پوری مناظر د ننداری د پاره تهیه کوی چه د شاګردانو د پاره پرته له تلویزیون څخه د هغو تهیه کول دومره زیات لګښت

ایجابوی چه د ښوونځیو تروس پورته دی ، مثلا د لندن ښاروال ډیر ګران قیمته جامی د تلویزیون ننداری چیانو ته د ننداری د پاره

برابروی او یا ډیری پخوارنی جنګی جامی د موزیمونو څخه راباسی او د درس او ټولګی محیط ته ئی راوړی یا ډیر عجیب بحری حیوانان او

بوټی د تلویزیون پر صفحه باندی څرګندوی چی د هغو لاس ته راوړل آسانه او ساده کارنه دی .

د تلویزیون د لاری تعلیمی

پروګرامونو جالب او تازه مطلب د ښوونځی لپاره برابر کړی دی مثلا د فرانسوی ژبی زده کول ئی

په خپل پروګرام کښی زیات کړی او ډیره نتیجه ئی ور کړی ده .

دا ډول پروګرام زیات لګښت

نه غواړی او د کال په ۳۰ پونډه د یوه تلویزیون د دستګاه په کرایه کولو سره شاګردان د هغه څخه وړیا ګټه اخلی په داسی

حال کښی د ګلاسکو په سیمه کښی د زده کوونکو د تدریس لپاره د دغو پروګرامونو تهیه کول د کاله څه د پاسه دوه لکه پونډه

لګښت ته ضرورت لری او د هر شاګرد د پاره تقریباً دوه شلینګه تمامیږی .

سر بیره پر ښوونځیو په

پوهنتونو کښی هم د تلویزیونی پروګرامونو اغیزه او نقش ګټور دی دغه مرکز د ۲۰۰ پوهنځیو لپاره درسی پروګرامونه برابر

او تنظیموی او د تلویزیونی د بهترین تدریس له کبله ؤ چی تیر کال په انګلستان کښی لومړی آزاد پوهنځی چی ټول تدریس ئی په تلویزیون سره دی پرانستل شو .

په دغه پوهنځی کښی ټول تعلیمات د تلویزیون ، راډیو او مکاتبی د لاری صورت نیسی او له هغو څخه (۲۵۰۰) تنه شاګردان علمی استفاده کوی او د دغو پورتنیو حقایقو څخه څرګندیږی

چی په آینده کښی د تلویزیون اهمیت او ارزښت د تدریس او تعلیم په چارو کښی لا بسی ډیر مهم ګرزی او هغه ټولو ښوونځیو ته پر اختیا مومی او

ټول معلمان او زده کوونکی د دغو پروګرامونو څخه زیاته ګټه اخستلای شی .

(پای)

د محک ژباړه :

داشپز خانی

یو ډول نوی وسیله

د امریکا د اوهایوی په ایالت کښی د اشپز خانی جوړولو یوې فابریکی په دی راوروسته کښی یوه آله جوړه کړی ده چی په اشپز خانه

کښی څو کاره سرته رسوی یعنی د غوښو د پریکول د پټاټو پوستول د میوو او به نیول ، د یخی ماتول د خوراکی قوطیو خلاصول سرته رسوی .

دغه آله یو وړوکی موټر لری چی د اشپز خانی په یوه اړخ کښی نصبیږی .

او د هغی په کار اچول ډیر آسانه او بې

ږغه دی او د سوځلو مصرف ئی لږ دی .

کور لرونکی ښځی هغه په یوه

سویچ سره په کار اچوی او هر کار چی په اشپز خانه کښی لری هغه سرته رسوی

او نورنو غوښو پریکولو ، د میوو څخه د اوبو ایستلو او نورو شیانو ته اړتیا نلری ، دغه ټوله کارونه ماشینی سرته رسوی .

دوکتور «خطیبی» د عامی روغتیا

د غاښو ډاکتر:

د روغتیا برخه:

د بدن سره د خولی رابطه

کاریس یا د غاښو د چنجی خوړل او د اوریو وینی کیدل په لومړی نظر یو عادی حالت څرګندیږی پداسی حال کښی چی داسی نه ده ارومرو د بدن سره اړیکی لری او هغه د سړی پر روغتیا باندی اغیزه کوی.

دا ځکه چی د خولی محیط (غاښونه او د خولې محاطی غشاء) د بدن سره رابطه لری، د بدن کوم آفت په خوله کښی عکس-العمل او دغه رنګه د خولې کوم آفت او ناروغی د بدن پر نورو غړو ناوړه اغیزه ښندی او که د هغه مخنیوی ونه شی ورو، ورو د سختو ناروغیو باعث ګرزی، نو باید د غاښو چنجی خوړل او د اوریو وینی کیدل هیڅکله بې اهمیته ونه ګڼو او ارومرو ئې حقیقی عامل ولټوو او پدغه هکله د غاښو ډاکتر ته رجوع وکړو.

په بدن کښی د اضافی موادو افرازات یا د بولو او خولې او یا د خولې د ناړو په واسطه خارجیږی او ټوله ثابته موازنه لری، البته د دغو دریو مجرا-ګانو مختل کیدل د بدن پر یوه غړی باندی فشار راولی او د ناروغی سبب کیږی.

که د خولې د ناړو مقدار کم شی، افرازی مواد د بولو دلاری د بدن څخه وزی چی د پښتورګی د ډبری د منځ ته راتلو سبب ګرزی او که پښتورګی خپل نورمال فعالیت ونه کړی طبعاً مواد د خولې د ناړو او د خولې د مرغړی له لاری خارجیږی چی د بدن د بدبوی او د غاښونو د ډبرو د تولیدیدو باعث کیږی او البته تر بغل لاندی، پښو او نورو غړو بدبوئی چی د ګنده بغل په نامه یادیږی لدغه کبله ده او د غاښونو

ښاغلی (خطیبی)

ډبری د ژنژویت ناروغی یعنی د اوری ګوشت خوردګی چی اوری د منځه وړی منځ ته راولی او هر کله چی دغه ناروغی تولیدشی دا ځکه چی میکروبی منبع فعاله کیږی د هغه له کبله د هاضمه جهاز ناروغی (د معدې زخم او امعائی آفتونه) او داسی نور منځ ته راځی.

د خولې د ناړو مقدار ټاکلی اندازه لری او د هغه خاصیت د خولې محیط د میکروبونو د منځه وړل د غذا د یوې برخی هضمول د خولې د محیط لوند ساتل او د خوراک د هغو وړو ټوټو د حل کیدلو سبب کیږی چی په غاښو کښی بند پاتیږی.

که هر کله د ناړو اندازه زیاته او یا کمه شی خپل خاصیت دلاسه ورکوی او د خولې او غاښو د بیلو، بیلو ناروغیو د پیدا کیدو سبب ګرزی.

د هضمی جهاز ټولی ناروغی د خولې د ناړو د زیاتیدلو باعث کیږی، دا ځکه که یو څوک د نس چنجی ولری د خوب په وخت کښی ئې د خولې څخه ډیری ناړی ځی البته ډیر بدبویونه او د هضمی جهاز تخریشونه هم د خولې ناړی زیاتوی او دغه رنګه د خولی د نسوار او سګریټو استعمال او نور د خانیات د خولې د ناړو موازنه د منځه وړی.

که د خولې ناړی زیاتی شی ځکه چی ضرر ناکه مواد د هغه په واسطه وزی د غاښو په بیخونو کښی دغه مواد ځای نیسی او رسوب کوی او د غاښونو څخه د اوریو د جلا کیدو سبب ګرزی او د میکروبونو د ودی د پاره ښ ځای دی او همدغه شی د غاښونو او اوریو ناروغی

منځ ته راولی.

که د خولې ناړې په لږ اندازه وي د خولې محیط نه شي لوندولای او ریو ته زیان رسیږي او هم میکروب نشي وژلای او غذائي شیان نشي حلولای او د ناروغیو د پیدا کیدو سبب کیږي او د دغو ناروغیو له کبله په خوله کښې، خیره، ریم او میکروب ځای نیسي او د خوړلو په وخت کښې د هاضمې جهاز ته داخلیږي او د بدن د بیلو بیلو ناروغیو د منځ ته راتلو باعث گرزي، په تیره بیا د معدې زیاتره تکلیفونه د اورې د ناجوړیو څخه پیدا کیږي.

د شکري ناروغي، د وینو بیلي بیلي ناروغي، سوزاک سفلیس محرقه، مزمن اسهالونه، مزمن قبضیتونه، د ځیگر ناروغي او داسې نور د ناروغانو پر خولو باندې اغیزه کوي او عکس العمل ئې په اوریو او غاښونو کښې څرگندیږي.

د سل ناروغي د کلسیم د نشته والي له کبله د کاریس د منځ ته راتلو سبب کیږي او د خولې ناړې کموي دا ځکه د سل هیڅ ناروغه به څوک و نه وینې چې غاښونه ئې سالم وي.

کوم غاښونه چې چنجیانو خوړلي وي هغه غاښونه میکروبونه د غاښو د لارې بدن ته داخلوي، د وینې، ینې او کلیوي ناروغي د منځ ته راتلو سبب گرزي، د زیاتو جلدي، داخله او نورو ناروغیو د مخنۍ تشخیص د خولې او غاښونو د معاینې څخه کیږي او هم د خولې د ناروغیو تشخیص باید د داخله ناروغیو څخه وشي.

په اوسني عصر کښې د غاښو د ډاکتر او نورو ډاکترانو ترمنځ د ناروغیو د تشخیص په برخه کښې رابطه او مشوره حتمي او ضروري ده د ښځو نسائي او ولادي ناروغۍ د خولې د زیاتو ناروغیو باعث گرزي او دا هم لیدل شویده چې زیاتره ښځې تر هر لنگون وروسته یو غاښ د لاسه ورکوي او یا غاښونه ئې چنجي خوري او هم د اورې د وینې کیدو ناروغي ورته پیښیږي، په تیره بیا که ښځه ډنگره وي په هغه وخت کښې چې ښځه نسائي او ولادي تکلیفونه ولري د خولې او غاښو ناروغي هم منځ ته راولي.

وړوکي تل کله چې غاښونه ئې زیږي اسهال او ناروغه وي، بیلي بیلي غیر صحي او غیر طبیعي غذاوي د زیاتو ناروغیو سبب گرزي، دا ځکه اوس غذائي رژیم د زیاتو ناروغانو د پاره د علاج وسیله ده او په داسې حالاتو کښې د خولې او غاښونو خرابوالي هم ناوړه اغیزه لري.

د دیابت (شکري) ناروغي، نقرس، زیاته چاغي روماتیزم او نیم سري زیاتره د اورې د خرابیدو او ناروغۍ سبب کیږي او په دغسې وختونو کښې د غاښو د سوریو څخه نو راوزي او دغه حالت پر له پسې تداوي په کار لري، دا ځکه چې د ډوډۍ خوړلو په وخت کښې تل دغه مواد د ډوډۍ سره یو ځای شوي او بدن ته داخلیږي او د هضمي جهاز بیلي بیلي ناروغۍ منځ ته راولي.

نو باید هر څوک د خپلو غاښو او خولې په ساتنه کښې ډیر ډیر احتیاط وکړي، او که د خولې او غاښو ناروغي او درد ورته پیښ شي باید سمدستي د غاښو ډاکتر ته ورشي او باید په بې اهمیته ډول ورته و نه گوري او علاج ته ئې ارومرو وجوغیږي.

دیو مشهور طبیب پیژندنه:

آلیبر

د فرانسې یو لوړ طبیب او د جلدي ناروغیو متخصص ؤ چې د ۱۷۶۶ څخه نر ۱۸۳۷ پورې ژوندي ؤ.

د ۱۸ لوئي او ۱۰ شارل طبیب او د فرانسې سر طبیب ؤ چې په جلدي ناروغیو کښې ځینې تالیفات هم لري.

د محمد علي خواجه ژباړه:

د خارجي منابعو څخه:

د هند

د حیدرآباد ښار

ښایي چي د حیدرآباد ښار د هند د ګډ تمدن چي په تیرو پیړیو کښي په هغه هیواد کښي منځ ته راغلی د پیژندګلوۍ ډیره ښه نمونه ده په دې ښار کښي د لرغوني زماني او اوسني مدرني زماني مظاهر څنګ پر څنګ لیدل کیږي.

د هند د شمال او جنوب خلک نژدې او پرله پوري ژوند سره کوي او د ژوندانه د طریقي تر منځ د ملک الطوایفي روحیه په نظر راځي.

دغه ښار د خارجي ګرزیدونکو لپاره ښکلي رودونه دنګي او لوړي ماڼۍ، موزیمونه او زړه وړونکي لرغوني ډیر آثار لري.

کوم شي چي لږ لري هغه مدرن هوټلونه دي چي ورو ورو په دې ښار کښي تر جوړیدو لاندي دي.

د حیدرآباد ښار چي د موسي د رودخاني څنګ ته پروت دي په حقیقت کښي د دروښارونو څخه جوړ شوي دي، د ګولکوندا لرغوني ښار، اردو ښار چي د سکندرآباد په نامه یادیږي او نوي ښار چي په ۱۵۹۱ میلادي کال کښي جوړ شوي دي.

د دې ښار پر شاوخوا باندي لوړي غونډۍ راګرزیدلي او هغه ګاري چي یو په بل پسي پرتي دي غیر معمولي طرز ئې منځ ته راوړي او نندارې کوونکو ته د نکلونو معبدونه ورپه یاد وي.

حیدرآباد د بشر په لاس جوړ شوي دریا چي لکه حسین ساګر، حمایت ساګر، عثمان ساګر د میر اعلم او میر حجله حوضونه او داسي نور لري.

د نوموړي رودونو او حوضونو ښکلا د موسي د رودخاني بي رونقي چي او به ئې د ساتلو او د هغو د مصرف له کبله لږ شوي جبیره کوي.

د مادر ښار:

د سید حسین ساګر د پاسه یو ښکلي واټ تیر شوي چي د حیدرآباد او سکندرآباد دوه ښارونه سره نژدې کوي، هره وځ خارجي ګرزیدونکي او د دغو دوو ښارونو په زرهاؤ خلک دغه بند ته چي پخپله د حیدرآباد خلک (ګاتا) ورته وائي ورځي تر څو چي د دغي دریا چي د آزادي هوا څخه خپل دماغونه تازه کړي خوندور کبابونه وخوري یا په وړو کښتیو کښي سپاره شي او یادا چي د نورو بیړیو د تګ راتګ څخه چي د ځلیدونکو او بو پر مخ باندي ګرزي خوند واخلي.

د لوړو غونډیو د یوې غونډۍ پر سر باندي د ګولکوندا ښار چي مادر حیدرآباد ښار نومیږي واقع دي.

د حیدرآباد د څلور منار یوه منظره

داښار د قهرمانۍ د داستانو او نکلو نو سره اړیکی لری، دغه ښار ؤ چی د مغلو د لوی لښکرو په مقابل کښی پوره نهه میاشتی په میړانه و دریدا و وروسته تر هغه ئی

په تصرف کی راوړی، د ګولکوندا بې اندازی شته منی د مغلو امپراطور ورجلب کی څنګه چی په دی ښار کښی د جواهراتو پلورل لکه کوه نور او دریانوریو عادی

او معمولی کار ؤ باید ووایو چی ګولکوندا د جواهراتو د کانو درلودونکی دی.

په پخوا زمانه کی د ګولکوندا غرنۍ کلا راجه کاکتیا حاکم

(وارانګل) جوړه کړی وه، یو معبد هم چی په هغه زمانه کښی جوړ شوی ؤ اوس هم هغه جومات ته نژدې چی په میلادی ۱۵۱۸ کال کښی د قطب شاهی د پاچهی مؤسس قلی قطب شاه په وسیله

جوړ شوی ؤ موجود دی، نوموړی پاچا دوهمه پلا دا کلا جوړه کړه او ښار ئې پراخ کړ.

د هغی زمانی د مهندسۍ شهکاری د اوسنۍ زمانی د معمارانو د تعجب او حیرانتیا سبب شوی دی، ده و کولای شو چی د چښلو او به د څټو د بلو لو نو په وسیله د غونډۍ د لاندی څخه

د هغی د پاسه پورته کړی، د دغی کلا د بڼغ او آواز ازانګه تر دې لا هم حیرانونکی ده تر ګنبدی لاندی د ډیر ورولاس ټکولو آواز د غونډۍ پر سر باندی چی د پاچا د دربار ځای ؤ اوریدل کیږی د دغی کلا نژدی مځکو ته د قطب

شاهی پاچاهانو د کورنۍ آرامګاه ده د دغی آرامګاه ګنبده په سپینو مرمرو باندی ښایسته ده.

د ګولکوندا پاچهان شیعه ؤ د محرمی د مراسمو اجرا کول د دې ښار د خلکو د ژوندانه نه بیلیدونکی برخه ګرزیدلی ده.

په دې ښار کښی د اسلام د پیغمبر حضرت [ص] د لمسی حضرت امام حسین [رض] د شهادت له کبله لس ورځی د ماتم مراسم نمانځل کیږی د محرمی په لسمه باندی د ماتم خپل اوج ته رسیږی او په هغه کښی په زرهاؤ تنه خلک ګډون کوی.

د عزاداری ډله د «علم بی بی» په نامه سره چی یوه ټولوا کمنی تاسیس کړی په خاص ډول سره برم لری په دې ډله کښی د پیلانو، اوښانو، اسانو او ماتم کوونکو اوږده صفونه په ار دواو

دری ژبو سره د مرثیی په ویلو پیل کوی د حیدرآباد نظام د شهیدانو د احترام له مخی دا ډله په داسی حال کښی چی لوڅی پښی رهی وی خپلی ښاری ماڼۍ ته نژدې قبلوی.

لویی ودانۍ:

سلطان محمد قطب شاه د قطب شاهی د پاچهی جوړونکی د زبر دست ښار جوړونکی له جملی څخه ؤ که چیری د څلور منارو له دروازو څخه د ښار شاوخوا ته نظر وا چول شی د دې کار حقیقت به په بشپړه توګه تاسو ته معلومه شی.

ده څلور لوی واټونه چی د دغی دروازی د څلورو خواؤ څخه تیریږی او یو وبل ته په قایمه زاویه سره دی جوړ کړی او ټول مسجدونه، مناری، مدرسی روغتونونه، کانالونه مهمان خانی، کاروان سرایونه او ماڼۍ ئې د دغو واټونو

تر څنګ آباد کړل د دغو ودانیو تر منځ د څلور منارو دروازی او د مکی مسجد بی ساری دی.

د څلورو منار طرح د محرمی د مراسمو څخه سرچینه اخستی ده د دغی دروازی مناری تا زیاته ورته والی لری چی د امام حسین [رض] مقبره د لیدونکو ذهن ته مجسمه کوی، که د څلورو منارو برم او عظمت د نړۍ ګرزیدونکو پام ځانته را اړوی خو د مکی د مسجد ظرافت او سادګی سیاحینو ته تر هغه لا په زړه پوری دی، د دغه مسجد مستطیل تالار، چت او ظریفی تاخچی په جوړولوا کښی چی په یوه پراخه محوطه کښی جوړ شوی د مکی معظمی د کعبی د خونی څخه پیروی شوی ده په دغه تالار کښی ۱۰۰۰۰ تنه په راحت سره ځائیدلای شی.

شاهی عاشور خانه چی د قطب شاهی له ودانیو څخه ده د «پتر ګاتی» په واټ کښی واقع ده نوموړی ودانۍ د لرګیو څخه جوړه شوی او اوس هم د هغه مینا کاری د لیدونکو سترګی ځلوی، د شاهی عاشور خانی په

مخامخ د دیوان دودهی ودانۍ په نظر راځی چی هلته د سالار جنګ مشهور موزیم دی اوس دغه موزیم په نوی ساختمان سره تنظیم شوی دیوان دودهی یوه لویه ودانۍ ده چی د ملوک الطوایفی د دورې په زوړ سبک سره جوړه شوی په دغو ودانیو کښی د ودانیو لوئی شپکی موجودی دی.

(پاته د پشتی په ۳ مخ کې)

د مصطفی لطفی منفلوطی له العبرات نومی عربی کتاب څخه:

د عبدالقدوس «نجیب» ترجمه:

«دوهمه برخه»

یادونه

ده غوښتل چی له یوچا څخه د هغی مسافرخانی پوښتنه وکړی چی د مخه پته ورکول شوی وه خو پدې شنه سهار ئې هیڅوک نکړ پیدا، څو چی د شنبل د ولی غاړی ته ورسید.

کله به ئې شنو مځکو ته کتل او کله به ئی سرسبزو باغو ته نظر اوښتی د ښار د خلکو دویښیدو په انتظار به ئی ځان پدې او په هغه مشغولاوه.

امیر پداسی حال کښی چی د اندیښنو په سیند کښی لاهو روان ؤ ناڅاپه ئی پر یوې هسپانوی پی مخی پیغلی چی په حسن کښی ئی د څورلسم سپوږمی شرموله سترګی ولګیدې چی د یوې ښکلی ماڼی له وره څخه راووتله

د سروزرو اوړ صلیب ئی پر سپین ټټر څوړند ؤ چی وړانګو ئی هر یخواته زرینی پلوشې خپرې کړی وې ترشا ئی یو ځلمی مرئی چی مقدس کتاب ئی په تخرګ کښی ټینګ نیولی ؤ رهی ؤ؛ د دې چی له لیری څخه

امیر په سترګه شو کرار ئی نقاب له مخه څخه نیم کښه کړ او په فصیحه عربی ژبه ئی چی لږ څه عجمی الفاظ ورسره ګډ وه له ده څخه پوښتنه وکړه:

څوانه د کوم ځای یی؟

مسافر راته معلومیږی.

امیر جواب ورکړ:

هو! مسافریم او اوس دستی دې ښار ته داخل شوم غواړم چی کومه مسافرخانه راوښیی.

پیغلی چی د ده په وینا ؤ کښی د شرف او د روندوالی آثار ولیدله، نو ځان ئی د ده په پیژندلو سره مکلف وباله، خو فعلا ئې د اوخت مناسب ونه ګاڼه صرف د ګوتو په اشاره سره ئی دی وپوهاوه چی په ماپسی راځه.

دواړه د حسن او ښکلا د آسمان روڼه ستوری اړخ پر اړخ روان شول څو د ښار عمومی مسافرخانی ته ورسیدل.

دلته پیغلی په خندا ورته وویل:

څوانه! دغه د مسافرانو د شپی د تیر ځای دی، زه اوس د څخه رخصتیږم مګر هوښ کوه چی هیره می نه کړې او دا په یاد لره چی د ضرورت په وخت کښی ستاسره هری ممکنی مرستی ته حاضره یم.

دا چی ئې وویله سمدستی په یوه نژدې کلیسا ننوتله.

لکه څنګه چی د آسمان مخ په توره تروږمی کښی په روڼو ستورو سره یو راز بل راز کیږی او کله بیا د شهاب په لویدلو او د زهرې په راختلو سره خپله یوه څنډه ځلوی او کتونکی د لمر راختو ته متوجه کوی بیا ژر د لمر روڼ ځادر د ستورو پر مخ داسی راڅوړند کیږی

چی د هغو د وجود حدس بیا کرټ نشی کیدای، همدا شان د انسان زړه د عواطفو او هیلو په رڼا کښی کله یو راز او کله بل راز شی څو د محبت د لمر د خمارو سترګو کئی ورباندی وځلیږی او د وجود نقشونه ئې پر مخ ویلی کړی.

امیر اوس د غرناطی ښکلی ښار په هغو سترګو نه وینی لکه د مخه چی ئی لیده د وحشت په عوض کښی ئې انس د تیارې په عوض کښی ئی رڼا او د مرګ په عوض کښی ئی خورا خوږ ژوند په نظر ورځی؛ د انتقام د جوش

جذبه ئی ساکته او د غضب انقلاب چی د ده ټول اعصاب ئی له طبیعی حال څخه منقلب کړی وه آرام شول.

اوس به د هغو مسجدو له مخه سره چی په کلیساؤ بدل شوی وه آرام تیریدی او د خپلی هغی محبوبې د لیدلو په هیله به ئی د هغو پر اطرافو طواف کاوه چی یو ګړی ئی لیدنه ورسره سوی وه؛ کله به بیا د تیریدونکو

نجونو د ټولی خواته متوجه شو چی ګوندی خپله ورکه معشوقه پکښی ومومی، د منارو صلیبو ته چی به ئی وکتل د هغی د ښکلی سینی څوړند صلیب به ورپیاد

شو لا به ئی د لیدنګ تلوسه پسی زیاته شوه، د کلیسا د زنګولو آزانګی به د هغی هغه خوږې خبری ورپه زړه کولی، چی په یو ساعت ملاقات کښی ئې ورسره کړی وی له کلیسا او ناقوس څخه ئی پدې ملحوظ نفرت نه کیدی ځکه چی د خپلی زړه وړونکی مینی وجود ئې پکښی احساساوه.

امیر به هره ورځ د شینل شنو پټیو ته د ښکلو ماڼیو د لیدلو په قصد تی او هلته به ئې د هر قصر د روازې ته په ځیر ځیر کتل، هغه قصر ئې لټاوه چی ښکلی پیغله ځنی راوتلی وه، په عین حال کښی به ئی د تیریدونکو ښځو مخو ته هم یو نظر اچاوه چی ګوندی دا پکښی ووینی مګر افسوس چی په پای کښی په یقینی ډول سره مایوسه شو او د پلرونو د هدیرې لارئی واخیستله او هلته ئی د قبرونو په منځ کښی په ډک زړه سره په زوره وژړل او د اوښکو سیلاب ئی پر ښکلی مخ راشیوه شو.

دا نه ده معلومه چی د امیر اوښکی د پخوانی غم له اثره څخه توئیدې او که د نوی ګروم له مایوسی څخه.

وایی دا پیغله چی امیر ئی له فراقه څخه د اپی مار په ځیر تاویدې (فلورندا) نومیدله او د یوه ګوندی مشر لوروه، پلار ئی دوه کاله د مخه د مستبد حکومت له طرفه څخه د محکومو طبقو د دینی او مذهبی حریت د غوښتو په جرم سره په مرګ محکوم شوی ؤ، د دې نتلی دا غم لا نه ؤ سوړ شوی چی خواخوږی مور ئی له ګرومه څخه د مرګ پر لار رهی شوه، او غم ئی یو په دوه شو مجبوره شوه چی له اتو کالو څخه د زهد او تقوی په کنج کښی معتکفه کښینی او غیر له یوه شخصی مربی څخه بل مصاحب و نه لری.

کله چی به دې وغوښتل چی لږ څه خپل غم سپک او د دردمن زړه سوده وکړی نو به د غرناطی د ړنګو آثارو په منځ کښی هر وخت دریدله او په ډیر حیرت سره به ئی د دوی د مالکینو د تللی جاه و جلال پر اسف آوره حال باندی څو غټی غټی اوښکی تویولی.

د دې ځای وګړو دا ښکلی راهبه بلله او د ډیر قدر په سترګه ئی ورته کتله.

یوه ورځ ئی د بنی احمر په مقبره کښی پر هغه عربی ځوان سترګی ومښتی چی څو عمر د مخه ئی په لار کښی لیدلی ؤ د دې ځوان د قبر مسوچیدو او لاورورلا اوښکو د هغی نرم او مهربانه زړه ډیر متالم کړ ژر ئی د هغه سر له تورو خاورو څخه راپورته کړ او په ډیره مهربانه لهجه سره ئی ورته وویل:

ځوانه! پخپلو تیرو پاچهانو پسی ژاړې، وژاړه بیشکه چی د ژړا او زړه سوی وړدی، په اوښکو ئی د قبرونو تیږی خیشتی او د کلووچ بوټی او به کړه.

امیر خپلی اوښلنی سترګی د دې خواته واړولی او په ریږدیدلی آواز سره ئی ورته وویل:

زما ګرانی خواخوږی لکه چی ته هم په دوی پسی د ژړا اوښکی تویوی او د حسرت اسویلی کاږې؟

فلورندا جواب ورکړ:

ځوانه نه یوازی زه بلکی زما نه هم په دوی پسی ژاړی زما په نزد هیڅ شی هومره د ژړا او افسوس وړ نه دی لکه د کورنیو د مشرانو ورکه او د عزیز کرده ؤ دربدری.

امیر ته د دې دې ویناؤ ډیر ډاډ ورکړ او پداسی حال کښی چی د تشکر سر ئی ورته ښوراوه وې ویل:

له هغی ورځی څخه چی دې ملک ته راغلی یم بیله تامی بل د عاطفی او مهربانی بږغ ندی ترغوږو شوی چی زما د نتلی غمجن زړه څه سوده په شوی وای.

فلورندا: تا د دوی د نورو قیمتی او باارزښته آثارو چی دلته موجود دی سیل کړیدی که یا؟

امیر پسله لږ مکثه څخه په ژړا جواب ورکړ:

ما غیر له دې څو نژدو قصرو څخه چی ساتونکو ئی نه ور پریښوولم او دوی نپوهیدل چی اصلی مالک ئی زه او د افتخار رجع ئی ما ته کیږی نور څه ندی لیدلی.

فلورندا: آیا ته لدغو عربی پاچهانو سره چی دلته ئی د برم او جلال دوره تیره کړیده کوم نسبی اړیکی لری؟!

امیر: یه زما ګرانی، بلکی زه دوی ته د غلامی نسبت لرم، او هغه نهال ئی یم چی د نعمت او احسان په باغچه کښی می ئی وده کړیده.

راهبه فلورندا د دې ویناؤ په اروید و سره د ده مخ ته ځیره شوه او په ډیر انکسار او مهربانی سره ئی ورته وویل: ځلمیه! سبا دلته راشه چی ټول آثار درباندې ووینمه.

(پاته لری)

«د ۲۸ مخ پاته»

دهند د حیدرآباد ...

د حیدرآباد نظام هم د خپل حکومت په دوره کښې ښار ته پراختیا ورکړه، ښکلی پارکونه، د حیدرآباد د قانون جوړولو د مجلس ساختمان، د سالارجګ موزیم، د ورزش ستډیو، پاولیون آ جانتا عالی دادګاه، عثمانیه روغتون، عثمانیه او ادبیاتو دانشګاه او لوړی او دنګی ماڼۍ د هغې دورې د ښایسته او ښکلو ودانیو څخه شمیرل کیږي.

مختلط تمدن:

حیدرآباد نه یوازې د هندیو ښار دی چې د ښکلو ودانیو، لویو و یالو، ښایسته باغونو او نورو اثارو لرونکی دی بلکه د هغه وګړی هم ورته ډېره ښکلا او جذابیت ورکوي.

د ډېرې مودې راپه دې خوا حیدرآباد یو بین المللی ښار دی، په دې ښار کښې عربان، ایرانیان، افغانان، سیدان او د حبشي خلک یو تر بله څنګ په څنګ ژوند سره کوي، د پیړیو پیړیو راهیسې دغه تکمونه په دې ښار کې ګذاره کوي او د ګډ تمدن څخه چې د ښې ګذارې او میلمه پالنې څخه ئې نمایندګی کوي ګټه اخلي، دوی دار دو په خوږې ژبې سره خبرې کوي د غو خلکو خپل پخوانی د ودونه او رواجونه په هغه لومړنی بڼه ساتلی دی.

د حیدرآباد د خلکو ترمنځ تر ټولو زیات د کلي ښایسته کولی ګان د لمبادا په نامه د سړی توجه ځان ته جلبوي او د لمبادا ښځې د لرغونی ګولکوندا ملکی سړی ته په یاد ورولی. (پای)

د روزګان د ولایت د مرکز
تیرین کوټ د نوی ښار یوه
منظره

د کندهار د ارغنداو د
پر فیضه سیند تر سربند
لاندی د شاه ولی کوټ
په برخه کښې پرته
سیمه